قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي الآية


جامعة العلوم الإسلامية العثمانية

# الأخذ بسنة الحبيب صلى الله عليه وسلم

ترتیب کوونکی: مولوي عبدالرقیب " عرفان "

لارښود استاذ : مولوي محمد حسن جان " مدني "

د فراغت کال : ۱۴۴۶ هـ ق


بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي الآية

جامعة العلوم الإسلامية العثمانية

# الأخذ بسنة الحبيب صلى الله عليه وسلم

ترتيب كوونكى: مولوي عبدالرقيب " عرفان "

لارښود استاذ : مولوي محمد حسن جان " مدني "

د فراغت كال : ۱۴۴۶ هـ ق

# د لارښود استاد تائید

الحمدلله رب العلمین الرحمن الرحیم مالك یوم الدین والصلوة علی رسوله الکریم نبیه الأمي الأمین وعلی صحابته وآله الفائزین - وبعد

د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم د سنتونو اتباع د دنیا او آخرت یقیني کامیابي ده او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هدایاتو او طریقو څخه مخالفت او سرې کېدل د دنیا او آخرت ناکامي ده د موضوع اړوند د جامعه عثمانیه فاضل مولوي عبدالرقیب صاحب مستند او ګټور معلومات راټول کړي دي البته دغه موضوع په ځان کې ډېرا رخونه او تفصیلات لري نو رهم لري خود موضوع لنډیز او نورو مراجعو ته د لارې پیلا کولو په موخه شه مختصره تمولګه ده او څونکه چې د جامعې لخوا پر هر فارغ التحصیل د لازمي اېښودل ده چې د منتخبې موضوع په اړه په معلومات راجمع کوي نو د مولوي عبدالرقیب صاحب موضوع تر نظره واستل سوه او تائید سوه الله جل جلاله دې ومرتب ته دعلمي سیالۍ په ډګر کې لا زیاته بریا ورنصیب کړي او الله تعالی دې دغه خدمت او نور خدمات د الله د رضا لپاره وګرځوي آمین

محمد حسن جان مدني
خادم جامعه العلوم الاسلامیة العثمانیة
۱۲ / شعبان / ۱۴۴۷ هق

# مننلیک:

ډیر خوښ یم چي دالله ﷻ په توفیق سره او د خپلو استاذانو په کومک او د خپلو والدَینو په همکارۍ او دعاء سره موږ دداسي یو دیني او کتورو معلوماتو د راټولولو عزم او اراده کړېده رب ﷻ دي موږ ددوی د سیوري څخه نه محروم کوي ، الله ﷻ دي د دوی په عمر او علم کي برکت واچوي ، خاصة بیا د خپلو والدینو څخه ډیر مننندوی یم چي همیشه زما تر څنګ دي او زما ئي هر رنګه همکاري او کومک کړیدی او ددوی په برکت موږ تر دا ځایه رارسېدلي یو .

# فهرست

| موضوع | صفحه |
| --- | --- |


سریزه.................................................................................................................. ۱

## اول فصل

اول مبحث د اتباع السنة پيژندنه،أقسام،أهميت،د سنت پيروي نه كولو پايلي .................................. ۵

اول مطلب : ..................................................................................................... ۵

د اتباع پيژندنه :.................................................................................................. ۵

الف: د اتباع لغوي معنى:.......................................................................................... ۵

په قرآن كي داتباع معنى:......................................................................................... ۵

باء: د اتباع اصطلاحي معنى : ................................................................................... ٦

دوهم مطلب: ...................................................................................................... ۷

د سنت پيژندنه : .................................................................................................. ۷

الف: د سنت لغوي معنى : ........................................................................................ ۷

باء: د سنت اصطلاحي معنى :..................................................................................... ۷

دريم مطلب:....................................................................................................... ۷

د سنت أقسام : ................................................................................................... ۷

څلورم مطلب :.................................................................................................... ۹

د سنة أهميت :.................................................................................................... ۹

پنځم مطلب : ..................................................................................................... ۱۲

دسنة د اتباع ( پیروي ) نه كولو تاوانونه او پايلي: .................................................. ۱۲

## دوهم فصل

اول مبحث د بدعت پیژندنه،د بدعت كوونكو پايلي .................................................. ۱۳
اول مطللب : .................................................. ۱۳
د بدعت پیژندنه : .................................................. ۱۳
الف: د بدعت لغوي معنی : .................................................. ۱۳
باء: د بدعت اصطلاحي معنی : .................................................. ۱٤
د امام احمدرحمه الله قول: .................................................. ۱۷
د ابن تيميه رحمه الله په نیزد دبدعت تعریف: .................................................. ۱۷
كوم كسان چي دبدعت دتقسیم قائله دي دهغوی دلائل: .................................................. ۲۰
كوم علماء چي بدعت مطلق مذموم بولي دهغوی دلائل: .................................................. ۲۲
د امام مالک رحمه الله قول: .................................................. ۲۲
حافظ ابن حجر رحمه الله وايي: .................................................. ۲۵
دوهم مطلب : .................................................. ۲٦
د بدعت كوونكو پايلي : .................................................. ۲٦
۱ – د مبتدع عمل الله جل جلاله نه قبلوي : .................................................. ۲٦
۲ – بدعت كوونكی د الله جل جلاله د حفاظت او هدايت څخه بې برخي كيږي: .................................................. ۲٦
۳ – د الله تعالی څخه ليريوالی: .................................................. ۲۸
۴ – بدعتي كس به په دنيا كي ذليل وي او په آخرت كي به د الله تعالی د غضب سره مخ كيږي: .................................................. ۲۸
۵ – د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا د بدعت كوونكو څخه بيزاري: .................................................. ۲۹

٦ – څوک چي بدعت جوړکړي، نو د هغه بدعت ګناه او هغه ټوله خلک چي دا بدعت کوي تر قیامته پوري ګناه به یي دده په غاړه وي: ........................................................................................................ ۲۹
۷ – بدعت کوونکي ته د توبې توفیق نه ورکول کېږي :.................................................................... ۳۰
خاتمه.................................................................................................................................... ۳۱

# لنډیز

الحمد لاهله و الصلاة علی اهلها .

محترمو ورونو او خویندو!

الله تعالی پر انسانانو ډېر لوی احسانونه کړي دي، له دغو احسانونو څخه یو دا دی چي موږ ئي انسانان پیدا کړي یو، عقل او پوهه ئي راکړې ده، او د لارښووني لپاره ئي پیغمبران را لیږلي دي. د دې امت لپاره الله تعالی حضرت محمد ﷺ د وروستي رسول په توګه را استولی دی، تر څو موږ ته د الله دین په بشپړ ډول وښیي.

رسول الله ﷺ موږ ته دین نیمګړی نه دی پرې ایښی، بلکي د ژوند هره برخه ئي راته بیان کړې ده: عبادت، اخلاق، معاملات، سفر، خوراک، څښاک، پاکي، ناروغي، روغتیا، حتی د تشناب آداب ئي هم ښوولي دي. دا پخپله دا ښیي چي اسلام یو بشپړ او کامل دین دی، او تر قیامته پوري به همدا دین پاتي وي.

د اسلام تر ټولو مهم اصل دا دی چي موږ باید د رسول الله ﷺ پیروي وکړو، څوک چي د الله جل جلاله محبت غواړي، هغه باید د رسول ﷺ سنت تعقیب کړي، ځکه الله تعالی فرمائي: که تاسو د الله سره مینه لرئ، نو زما د (رسول) پیروي وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او ستاسو ګناهونه به وبخښي.

سنت د قرآن تشریح ده. قرآن موږ ته د لمانځه حکم کوي، خو سنت موږ ته ښیي چي لمونځ څنګه، کله او څو رکعته اداء کړو. همدا شان، که موږ په کومه مسئله کي اختلاف ولرو، حل لاره ئي دا ده چي هغه قرآن او سنت ته وړاندي کړو.

بدعت دادی چي په دین کي داسي نوي خبري، طریقې یا عبادتونه را منځته شي چي نه قرآن پرې دلیل لري او نه سنت. رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي هر بدعت ګمراهي ده، او ګمراهي د انسان د هلاکت سبب ګرځي. له همدې امله، مسلمان ته پکار ده چي له بدعتونو او ځانه جوړسوي دیني کارونو څخه ځان وساتي.

که څوک د رسول الله ﷺ یو پاته سوی سنت را ژوندی کړي، الله تعالی به ورته لوی اجر ورکړي، او که څوک بدعت را منځته کړي، نو د هغه ګناه به هم پر ده وي او د هغه کسانو ګناه به هم پر ده وي چي په هغه بدعت عمل کوي.

نو د نجات، کامیابۍ او د الله د رضا یوازینۍ لار دا ده چي:

د قرآن او سنت پیروي وکړو،د رسول الله ﷺ لار خپله کړو، له بدعتونو او غلطو عقایدو ځان وساتو

همدا یوه سیده لار ده، نوري ټولي لاري انسان د ګمراهۍ خواته بیایي.

الله تعالی دي موږ ټولو ته توفیق راکړي چي د رسول الله ﷺ په سنتو عمل وکړو، او تر آخره په سمه لاره ثابت قدم پاته سو. آمین .

## ستونزه:

د نبيﷺ دسنتو اتباع کول او د بدعاتو څخه ځان ساتل يوډيره اهمه او ضروري موضوع ده چونکه د نبي کريمﷺ سنت په نن عصر کي د خلګو له نظره پاته سويدي او د بدعاتو او سنتو تر مينځ فرق کول او جدا کول ورته مشکله ده نو داسي يو لنډه او مختصره مقاله چي دسنت او بدعت لنډ او واضح تعريفونه او فرقونه پکښې وي د خلکو لاسرسی نه ورته کېدی نو ځکه موږ اهمه وبلل چي داسي يو لنډه او مختصره رساله وليکو چي خلک ورڅخه په اسانه ګټه واخلي، خو کېدايسي چي زموږ څخه په دا رساله کي کوتاهي سويوي نو موږ ستاسو څخه د هغه په هکله بخښنه غواړو.

## اهميت:

دسنتو پيروي کول په اسلام کي تر ټولو مهم رکن دی اوپر هر فرد دا لازمه ده چي سنت وپېژني او عملي ئي کړي ځکه سنت عبارت دی دنبي کريمﷺ د سيرت او صورت څخه ،دنبيﷺ د اخلاقو او ژوند څخه، د نبي کريمﷺ د اقوالو او افعالو څخه ، نو سنت د مسلمان د ايمان لپاره يو وجوبي عمل دی ،او تر څنګ ئي د بدعت څخه ځان ساتل هم ډير ضروري دي ځکه که بدعت رواج سي نو سنت له مينځه څخه ځي؛ نو ځکه بدعت پيږندل او ځان ورڅخه ساتل هم ډير زيات اهم دي .

## د څېړني اصلي موخي:

د اسلام له نظره د سنت او بدعت څيړل .

## د څېړني فرعي موخي :

- د سنت او بدعت پيژندل .
- د قرآن کريم څخه د سنت او بدعت اړوند دلائل بيانول .
- د نبوي احاديثو څخه د سنت او بدعت اړوند دلائل بيانول .
- د سنت او بدعت اړوند د فقهاؤ اقوال او استدلالات روښانه کول .
- د سنت نه عملي کول او د بدعت څخه ځان نه ساتلو په صورت کي دنيوي او اخروي زيانونه په ګوته کول .

## اصلي پوښتني :

د اسلام له نظره د سنت عملي کول او د بدعت پرېښودل څومره معتبر دی؟

## فرعي پوښتني:

سنت او بدعت څه معنی ؟

د سنت او بدعت اړوند په قرآن کريم کي کوم دلائل موجود دي ؟

د سنت او بدعت اړوند په نبوي احاديثو کي کوم دلائل موجود دي ؟

سنت او بدعت اړوند د فقهاؤ اقوال څه ډول دي؟

د سنت نه عملي کول او د بدعت څخه د ځان نه ساتلو په صورت کي دنيوي او اخروي زيانونه کوم دي ؟

**پخواني آثار**:

د سنت د اتباع کولو او دبدعت څخه د ځان ساتلو اړوند کتابونه شتون لري خو هغه داسي په لنډ ډول نه دي ، په هغو کتابو کي دا مباحث ضمني ذکر سوي دي يوازي دسنت او بدعت اړوند داسي لنډه رساله نه د سترگو کېدل ځکه هغه رسالې ډيري اوږدې دي او خپل هدف په لنډ او اسانه طريقه سره نه حاصلېدی، دا رساله ډيره لنډه ده اويوازي د سنت او بدعت اړوند بحث شتون پکښي لري چي په اسانه او لنډ ډول سره سنت او بدعت پکښي پېژندل کېږي .

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه ونؤمن به ونتوكل عليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئآت أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا إله الا الله وحده لا شريک له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، أرسله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله، فبلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة،وجاهد فی الله حق جهاده،اللهم صل وسلم وبارک عليه وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهديه وسلک سبيله إلى يوم الدين.

أمابعد:

فأعوذبالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم،(قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ الله وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَالله غَفُورٌ رَحِيمٌ)[ال عمران ٣١] وقال تعالى جَلَّ جَلَالُهُ: (وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً فَاتَّبِعُوهُ وَلا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ)[الأنعام ١٥٣] وقال تعالى جَلَّ جَلَالُهُ: (مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى الله وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالاً مُبِيناً)[الأحزاب ٣٦] وقال تعالى جَلَّ جَلَالُهُ: (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيراً)[الأحزاب٢١]

وقال العرباض بن سارية رضي الله عنه:(وعظنا رسول الله صلى الله عليه و سلم موعظةً بليغة ذرفت منها العيون ووجلت منها القلوب، قال قائـل: يا رسول الله! كأنَّ هذه موعظة مودِّع، فماذا تعهد إلينا؟ فقال: أوصيكم بتقوى الله والسمع والطاعة وإن عبد حبشـــي، فإنَّه مَن يعش منكم فسيرى اختلافاً كثيراً، فعليكم بسنَّتي وسنَّة الخلفاء المهديِّين الراشدين، تمَسَّكوا بها وعضُّوا عليها بالنواجذ، وإيَّاكم ومحدثات الأمور؛ فإنَّ كلَّ محدثة بدعة، وكلَّ بدعة ضلالة[١]).

وعن جابر بن عبد الله أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم: (كان إذا خطب يوم الجمعة قال: "أمَّا بعد، فإنَّ خير الحديث كتاب الله، وخير الهدى هدى محمد، وشر الأمور محدثاتها، وكلَّ بدعة ضلالة)[٢].

وقال صلى الله عليه وسلم: (يا أيُّها الناس! إنيِّ تركتُ فيكم ما إن اعتصمتم به فلن تضلُّوا أبداً، كتاب الله وسنَّة نبيِّه صلى الله عليه وسلم)[٣].

صدق الله العظيم ،وصدق رسوله النبى الكريم ،ونحن على ذالک لمن الشاهدين والشاكرين،والحمدلله رب العلمين.

---

١ رواه أبو داود كتاب السنة/باب في لزوم السنة(٤٦٠٧) .

٢ ".رواه مسلم في صحيحه كتاب الجمعة/باب تخفيف الصلوة والخطبة(٨٦٧) .

٣ " رواه الحاكم (٩٣/١)

محترمو دوستانو! د الله جَلَّجَلَالَهُ احسانات ډیر زیات دي،که یو شمېرونکی وغواړی چي ویي شمېري نــه یي سي شمېرلای، ددې احساناتو دجملې څخه یو احسان دادی چي په خپل مخلوق کي یي موږ اوتاسو انسانان پیدا کړي یو،او دانســانیت دلوړي رتبې او امتیاز لپاره یي عقل او پوهه راکړي ده،اوددې ترڅنگ یي بیا دخپل ځان دمعرفةاو لارښــووني لپاره رسولان او استازي را استولي دي تر څو موږ انسانانوتـه زموږ رب او پیداکوونکی راوپيژني .

اوداهم درب العزت جَلَّجَلَالَهُیو عظیم فضل دی چي دا استازي او رسولان یي دانسانانو لپاره هم انسانان را استولي دي لکه څنگه چي الله جَلَّجَلَالَهُفرمائي:(لَقَدْ مَنَّ الله عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ) [ال عمران۱۶۴] ژباړه:"یقینا الله جَلَّجَلَالَهُپر مؤمنانوباندي احسان کړیدی چي په دوی کي یي ددوی دنوعي(انسان)څخه رسول را استولی دی".درسول وظیفه داده چي دالله جَلَّجَلَالَهُ پیغام خلکو ته ورســوي، لکه څنگه چي الله جَلَّجَلَالَهُفرمائي:(فَهَلْ عَلَى الرُّسُــلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ)[النحل۳۵] ژباړه:"نو ایا په پیغمبرانو باندي (یو شی سته؟هیڅ شیورباندي نسته)مگر (دالله جَلَّجَلَالَهُ داحکامو) ښکاره رسول (ورباندي لازم دي". او بل ځای الله جَلَّجَلَالَهُ فرمائي:(وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إلا الْبَلاغُ الْمُبِينُ)[النور۵۴] ژباړه:"او پر پیغمبر ﷺ باندي خو(بله فریضه)نسته مگر (داحکامو)ښکاره رسول(ورباندي سته چي په ډیره ښه طریقه باندي اداء کړي دي)".

ددې امة لپاره الله جَلَّجَلَالَهُ حضـرت محمد ﷺ را أستولی دی تر څو دالله جَلَّجَلَالَهُله طرفه ورکول سوی دین خلکو ته ورسوي.

او دامة لپاره لازمه داده چي رســول الله ﷺکومه لاره او طریقه بیان کړیده دهغه طریقې په کامله توگه اتباع وکړي،لکه څنگه چي الله جَلَّجَلَالَهُفرمائي: (وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْـتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّـبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَـبِيلِهِ) [الأنعام۱۵۳] ژباړه:"او (بل داچي) یقینا دغه (اســلام چي څه احکام یي بیان ســوه) زما برابره لاره ده نو پیروي یي وکړئ او (ددې څخه په غیر)د(نورو)لارو پروي مه کوئ چي دغه لاري به تاسو دخپل رب جَلَّجَلَالَهُدلاري څخه تیت پرک کړي".

دا شریعت مطهره چي رسول الله ﷺراوړیدی درې صفات پکښې دي:

١. بقاء
٢. عمومیة
٣. کمال

بقاء دامعنی چي دا دین به تر قیامته باقي وي بل رسول یا نبي نه راځي چي بل دین راوړي ځکه الله جَلَّجَلَالَهُ فرمائي:(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ)[الأحزاب۴۰] ژبـاړه:"(اې مؤمنانو!)محمد ﷺ ستاسو دبالغه نارینه وو څخه دیوه کس هم (حقیقي اوشرعي) پلار نه دی اومگر دالله جَلَّجَلَالَهُرسول او دټولو پیغمبرانو وروستنی پیغمبر دی".

او په حديث شريف كي راځي:عن معاوية رضي الله عنه قال: (سمعتُ النَّبيَّ صلى الله عليه وسلم يقول:من يُرد الله به خيراً يفقهه في الدِّين، وإنَّما أنا قاسمٌ والله يُعطي، ولن تزال هذه الأمَّةُ قائمةً على أمر الله، لا يضـــرُّهم من خالفهم حتى يأتي أمر الله[1]).

ژباړه:"دمعاويـة رضي الله عنه شخه روايـت دی :ويل ما دنبي ﷺ شخه واورېدل چي ويل يي :هغه څوک چي الله تعالى دهغه دخير اراده وکړي هغه ته ددين فهم ورکړي ،او زه يوازي وېښونکی يم او اصلي ورکړه الله تعالى کوي ،او دا امت بـــه تل دالله تعالى په امر قائم وي،دوی ته به هغه کســـان ضرر ونه رســـوي چي ددوی مخالفت کوي ،ترڅو چي دالله تعالى امر راځي".

اوعمومية دا معنی چي دا دين عام دی ثقلينوتـــه يعني هم انسانانو لپاره دی او هم دپيرانانو لپاره،لکه څنګه چي الله جل جلاله فرمائي: (قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُـــولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً) [الاعراف١٥٨]ژباړه: "(اې پيغمبره!)ووايه (اعلان وکړه چي:)اې خلګو!يقينا زه تاسو ټولو ته دالله جل جلاله له طرفه را استول سوی يم".

او حديث شريف كي راځي،رسول الله ﷺفرمائي: ( والذي نفســـي بيده! لا يسمع بي أحد من هذه الأمَّة يهودي ولا نصـــراني، ثم يموت ولم يؤمن بالذي أُرسِلتُ به إلاَّ كان من أصحاب النار[2]) ژباړه:"قسم په هغه ذات چي زما نفس دهغه په لاس کي دی،ددې امت څخه به هيڅ يهودي او عيســـوي داسي نه وي چي زما رســـالت واوري بيا مړ سي او په هغه څه ايمان ونه لري چي زه په هغه سره را استول سوی يم مګر هغه به داور دخاوندانو څخه وي".

انســـانان اوپيرانان دواړه درســـول الله ﷺامتيان دي،او دېته امت ددعوت ويـــــل کيږي چي ټوله به دادين حنيف ته داخليږي،لکه څنګه چي اللهجل جلالهفرمائي:(وَاللهُ يَـــــدْعُو إِلَى دَارِ السَّـــلاَمِ وَيَهْدِي مَن يَشَـــاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْـــتَقِيمٍ) [يونس٢٥]ژبـــاړه:"اوالله جل جلالههر څوک دسلامتيا وکورته رابولي او دمستقيمي لاري ښوونه هغه چاته کوي چي الله جل جلالهاراده ورته وکړي".

په دې ايت کريمه کي دأمت و دوو قسمونو ته اشاره ده:

أ (ددعوت امت)

ب (داجابت امت)

ددعوت امت دادی چي اللهجل جلالهفرمائي: (وَاللهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلاَمِ) ژباړه:"اوالله جل جلاله رابلل کوي د سلامتيا وکورته"؛په دې ايـــــة کريمه کي د(يدعو)متعلق نه دی ذکر ســـوی ددې لپاره چي دا متعلق يي عام سي يعني کل احد وهر چاته الله جل جلاله دعوت ورکوي،نو دا دعوت عام سو،په دې دعوت کي ټوله انسانان او پيرانان شامل دي چي ودېته ددعوت امت ويل کيږي.او بل داجابةامت دی دا هغه کســـان دي چي اللهجل جلالهيي په خپل فضـــل سره پر مســـتقيمه لار برابر کړي او هدايت

---

١ رواه البخا ري كتاب العلم/باب من يردالله به خرا يفقهه في الدين(٧١)

٢ رواه مسلم /كتاب الإيمان/ باب وجوب إيمان أهل الكتاب برسالة الإسلام(١٥٣)

ورته وکړي چي دآيت ددې جزء څخه معلومېږي (وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ) او دا امت خاص دي دالله جَلَّجَلَالَهُ تر مشية پوري چي دالله جَلَّجَلَالَهُ اراده نه وي هيڅوک دهدايت پر لار نه سي برابر کيدلای.

او بل دا دين کامل دی هر څه الله جَلَّجَلَالَهُ او دهغه رسول ﷺ بيان کړيدي، هيڅ داسي څه نسته چي يو کس ووايي چي په دين ا سلام کي ددغه شي و ضاحت او بيان نه دی سوی، هر څه أصولا او اجمالا په قرآن او حديث کي بيان سوي دي، او سلفو صالحينو بيا موږ ته د هغه شي و ضاحت کړيدی.لکه څنګه چي الله جَلَّجَلَالَهُ فرمائي:(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الأِسْلاَمَ دِيناً) [المائدة ٣] ژباړه:"نن مي ستاسو لپاره ستا سو دين پوره کی ،اوپر تاسو باندي مي خپل نعمت بشپړه کی، اوستاسو لپاره مي اسلام ددين په توګه غوره کی".

او بل نبي ﷺ فرمائي: (ترکتکم على مثل البيضـــاء، ليلها کنهارها، لا يزيغ عنها إلاَّ هالك[١]) ژباړه:"ما تاســـو داسي په يو روښانه لار پرينښولاست چي شپه يي دورځي په څير ده ،ددې لاري څخه يوازي هلاکيدونکی کس اوړي".

بـل حديث کي راځي:(عن سلمان رضي الله عنه قال: قيل له:قد علَّمکم نبيُّکم صلى الله عليه وسلم کلَّ شيء حتى الخراءة، قال: فقال: أجل! لقد نهانا أن نستقبل القبلة لغائط أو بول، أو أن نستنجي باليمين، أو أن نستنجي بأقل من ثلاثة أحجار، أو أن نستنجي برجيع أو بعظم[٢] )ژباړه:"د سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی وای ده ته وويل سول چي يقينا تا سو ته ستا سو نبي ﷺ دهر شي تعليم درکړيدی حتی دغائط او بولو تعليم يي هم درکړيدی ،راوي وايي چي ده ورته وويل چي هو!يقينا موږ نبي عليه الســـلام منعه کړي يو چي په غائط اوبولو کي مخامخ قبلې ته کښـــېنو ،او منعه کړي يي يو چي اســـتنجاءپه راسته لاس ووهو،او ددې څخه يي منعه کړي يو چي تر درو ډبرو په کم استنجاء ووهو،او ددې څخه يي منعه کړي يو چي په هډوکي يا خوشايي باندي استنجاء ووهو".

مطلب دادی چي موږ ته نبي ﷺ هرڅه بيان کړيدي،داموږ دځان لپاره عيب نه بولو چي نبي ﷺ موږ ته داســـتنجاء مسائل هم بيان کړيدي؛ځکه دين ا سلام مکمل ادب دی (الدين كله أدب) دين ټوله ادب دی، نو که ددين مسئله وي چي د خلګو ورته ضرورت وي نو دا ضروري ده چي د هغې مسـئلې بيان به عالم الدين کوي،هغه که د هرشي اړوند مسـئله وي عالم به يی بيانوي.

داغه رکم بل حديث کي راځي :(عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أنَّ رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم قال: "إنَّه لم يکن نبيٌّ قبلي إلاَّ کان حقًّا عليه أن يدلَّ أمَّته على خير ما يعلمه لهم، وينذرهم شرَّ ما يعلمه لهم) [٣] ژباړه:"دعبد الله بن عمر بن العاص رضـی الله عنه څخه روايت دی :چي يقينا رسـول الله ﷺ وفرمائل:شـان دادی چي زما مخکي نبي نه دی تېر سوی مګر پر ده باندي لازمه وه چي خپل امت ته به دهغه خير ښوونه کوي کوم چي دی علم ورباندي لري ،او دهغه شره څخه به يي بېروي کوم چي دی علم ورباندي لري".

---

١ رواه ابن أبي عاصم في السنة (٤٨)

٢ رواه مسلم/كتاب الطهارة/باب الإستطابة(٢٦٢)

٣ رواه مسلم/كتاب الإمارة/ باب الأمر بالوفاء ببيعة الخلفاء، الأول فالأول(١٨٤٤)

نو نبي ﷺ موږ ته هر څه بیان کړي دي ،ددادین اسـلام هره جزئیه یی راته واضـح کړېده،نو دادین دهره اړخه کامل او مکمل دی هیڅ داسي څه نســته چي نبي ﷺ موږ ته دهغه بیان نه وي کړی،موږ ته یي آداب دتخلی بیان کړیدي،داغه رکم دخوب آداب، دولاړي آداب، دنا ستي آداب ،داغه رکم خوراک کول،څښاک کول،پر سپرلۍ سپرېدل،د سپرلۍ څخه راکښته کیدل،داغه رکم سفر کول،د سفر څخه راتلل،داغه رکم دمرض احکام ،د صحة احکام،دمرگ او دړوند تړوله احکام یی راته بیان کړیدي،دعرش بیان یي راته کړیدی،دملائکه بیان یي کړیدی،دپیرانانو بیان یی کړیدی،دجنة او د دوږخ بیان یي کړیدی،امت ته یي خپل حقیقي معبود ور وپېږندی،خیر او شر یي را وښـــودی،دلائل یي دتوحید راته بیان کړل، دنبوة دلائل یي راته بیان کړل، دبیا راړوندي کیدو دلائل یي راته بیان کړل،داسي څه نســته چي مبارک ﷺ موږته دهغه بیان نه وي کړی،نو پر موږ لازمه ده چي دمبارک ﷺ دسنتو به په کامله توگه اتباع کوو،دبدعاتو خرافاتو او دباطلي عقیدي څخه به په کلکه ځان ساتو.

## اول فصل

## اول مبحث د اتباع السنة پیژندنه،أقسام،أهمیت،د سنت پیروي نه کولو پایلي

### اول مطلب :

### د اتباع پیژندنه :

### الف: د اتباع لغوي معنی:

اتباع په لغت کي دعربي ژبي دتَبِعَ يَتْبَعُ مادې څخه اخېستل سویدی؛ معنی یی داده چي دیوچا په آثارو پسې کیدل، یا دیو چا لار تعقیبول،دیو چا پیروي کول.یا دیو چا په لارښوونوعمل کول.[لسان العرب]

### په قرآن کي داتباع معنی:

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمائي:(اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ )[اعراف ٣] ژبـــــاړه:"(نو خلگو ته ووايه چي)دهغه شي پیروي وکړئ چي تاسو ته دخپل درب جَلَّجَلَالُهُ له طرفه نازل سويدي (په دې کي ستاسو درب جَلَّجَلَالُهُ پیروي پرته ده)او دخپل رب جَلَّجَلَالُهُ څخه په غیر دنورو دوستانو پیروي مه کوئ،ډیر لږ تاسو پند اخلی(پیروي مو کمه ده)".

بل آیة کي راځي اللهجَلَّجَلَالُهُفرمائي: (فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)[اعراف ١٥٧]ژباړه:"نوهغه کســان چي دالله پر (ذکرســوي رســول ﷺ)باندي ایمان راوړي اوتعظیم یي وکړي (دتوهین څخه یي ځانونه وســاتي)او(بالآخره ددین په رســونه کښــي یي) کومک وکړي او هم دهغه نور(رڼا)پیروي وکړي چي دده سره نازل ســویدی (چي دقرآن کریم څخه عبارت دی)، دغه کســـان همدوی فلاح موندونکي دي (دهمدوی نجات په برخه دی او تاسو ته په کار دي ـ اې دموسی ﷺامته!ـ چي ځانونه په همدغه ډله کي شامل کړئ".

داغه ركم بل آية كي راځي الله جَلَّجَلَالُهُ فرمائي: (وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِـــــآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ)[الأنعام ١٥٠] ژباړه:"او ته دهغو كســانو دخواهشــاتو پيروي مه كوه چي زموږ آياتو ته ددرواغو نســبت كوي،او دهغه كســانو (دخواهشــاتوپيروي هم مه كوه) چي په آخرت باندي په داسي حال كي عقيده نه لري چي دخپل رب جَلَّجَلَالُهُ سره (په عبادت كي بتان) برابروي. (ستا امت دي نه هغوى شاهدي مني او نه دي دكافرانو دخواهشاتو پيروي كوي)".

بل ځاى كي الله جَلَّجَلَالُهُ فرمائي: ( ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْـــرِكِينَ)[النحل١٢٣] ژباړه:"بيا موږ تاته وحي وكړي (اى پيغمبره!) چي دابراهيم عليه السلام ددين پيروي په داسي حال كي وكړه چي دټولو بـاطل اديانو څخه حق دين ته مائل دى ،او ابراهيم عليه السلام دمشركانو څخه هم نه دى".

په مذكوره آياتونو كي اتباع په خپله لغوي معنى كي استعمال سوېده.

## باء: د اتباع اصطلاحي معنى :

الاتباع هو الاقتداء بالنبيﷺ في أقواله وأفعاله على الوجه الذي جاء به من وجوب أو ندب مع توفر القصــد والنية في متابعته والتأسي به.[١]

ژباړه:اتباع دې ته وائي چي د نبيﷺ په اقوالو او افعالو پســـــي اقتداء كول په هغه طريقه چي دنبي كريمﷺ څخه ثابت وي هغه كه په طريق د وجوب وي يا مســتحب وي قصــد او نيت به ئي هم د نبي كريمﷺ د متابعة او اقتداء كړى وي .

نو معلومه ســول چي اتباع دنبيﷺ داده چي كوم أقوال نبي ﷺ كړيــــــدي پر هغه عمل كول او كوم افعال چي دنبي ﷺ څخه ثابت دي پرهغه افعالوعمل كول،او هغه تقريرات چي دنبيﷺ څخه ثـــابت دي پر هغه تقريراتو عمل كولو ته اتباع وايي،نو ددې څخه دا معلومـــه سول چي كوم افعال دنبي ﷺ څخه ثابت نه دي دهغه عمل پرېښودل هم سنت دى ،يعني هغه عمل چي نبي ﷺ نه وي كړى دهغه پاته كول دا هم عين دنبي ﷺ اتباع ده.

[١]: محبة الرسول بين الاتباع و الابتداع ١ / ١٠٦ .

## دوهم مطلب:

### د سنت پيژندنه :

### الف: د سنت لغوي معنى :

سنة په لغت کي طريقي (لاري) يا عادت ته ويل کيږي ،لکه الله جَلَّ جَلَالُهُ چي فرمائي:

(سُنَّةَ الله فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ الله تَبْدِيلًا)[الأحزاب ٦٢] ژباړه:"(دا طريقه)الله جَلَّ جَلَالُهُ په هغه کسانو کي (جاري کړېـــده)کوم چي (ددغو ورانکارانو څخه)مخته تير سويدي طريقه جاري کول.او ته به هيڅکله دالله جَلَّ جَلَالُهُ(مقرري)طريقې ته بدلون پيدا نه کړي(دا به تر قيامته پوري جاري وي)".

بل ځای کي راځي الله جَلَّ جَلَالُهُفرمائي: (سُنَّةَ مَنْ قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا) [الإسراء٧٧]

ژباړه:"دا طريقه دهغه چا وه چي موږ استول کړيوه مخکي ستا زموږ درسولانو څخه،او ته به هيڅکله زموږ طريقې ته بدلون پيدا نه کړې".

بل ځای کي  الله جَلَّ جَلَالُهُ  فرمائي: (قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَـلَفَ وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَـتْ سُـنَّةُ الْأَوَّلِينَ)[الأنفال٣٨] ژباړه:"ورته ووايه هغه کســانو ته چي کفر يي کړيدی که چيري دوی منعه سي دوی ته به بخښـــه وسي  دهغه تېر ســوي گناهو ، او که چيري دوی بيا کفر ته را وگرځېږي نو په تحقيق سره پر دوی باندي به داولني کســانو طريقه جاري سي".

### باء: د سنت اصطلاحي معنى :

سنة په اصطلاح کي: د رسول الله ﷺ أقوالو، أفعالو، او تقريراتو ته ويل کيږي[١] .

يعني هغه أقوال يا خبري چي  نبي ﷺ کړيوي، او هغه أفعال يا کارونه چي نبي ﷺ کړيوي،او يا هغه کارونه او خبري چي صحابه کرامو دنبي ﷺمخته کړيوي او نبي ﷺ پر هغه باندي سکوت او چوپتيا کړيوي،

## دريم مطلب:

### د سنت أقسام :

دسنة اطلاق پر څلورو شيانو کيږي:

---

١ الموافقات، ج ۴، ص ٣

۱.په معنی دطریقې: یعني هر هغه څه چي په کتاب الله او ســـنة کي راسي هغه دنبی ﷺ طریقه ده، او دهغه څخه اعراض او ګرځېدل د اصــل دین څخه اعراض کول وي. لکه حدیث شریف کي چي راځي نبي ﷺ فرمائي:(فمن رغب عن سنتي فليس من[1])

ژبـــاړه:"هغه څوک چي زما دطریقې څخه يي اعراض وکی هغه زما څخه نه دی".نو معلومه سول چي دنبي ﷺ طریقه کتاب الله او سنت دي .

۲.ســنة په معنی دحدیث: دا هغه وخت اســتعمالیږي چي کله دســنة عطف پر کتاب الله راسي،لکه حدیث شریف کي چي راځي نبي ﷺ فرمائي:(ياأيهاالناس إني قد تركت فيكم ما إن اعتصمتم به فلن تضلوا أبدا:كتاب الله وسنة نبيه صلى الله عليه و سلم[2]) ژباړه:"اې خلګو!یقینا ما په تا سو کي هغه شی پرې اېښی دی که تا سو په هغه سره لاس ونیسی هیڅکله په ګمراه نه ســی دهمیش لپاره،هغه دالله جل جلاله کتاب دی،او دالله دنبي ﷺ احادیث دي".دلته دســنت عطف پر کتاب الله راغلی دی نو په معنی سره دحدیث دی.

۳. ســنت په مقابل دبدعت کي: لکه حدیث شریف کي چي راځي: وقال العرباض بن ســارية رضي الله عنه:(فإنَّه مَن يعش منكم فسيرى اختلافاً كثيراً، فعليكم بسنَّتي و سنَّة الخلفاء المهديِّين الرا شدين، تمَسَّكوا بها وعضُّوا عليها بالنواجذ، وإيَّاكم ومحدثات الأمور؛ فإنَّ كلَّ محدثة بدعة، وكلَّ بدعة ضلالة[3]) ژباړه:"ځکه شان دادی که څوک ژوند وکړي ستاسو څخه نو ژر دی ډیر اختلافات به ووینې ،نو تاســو لازم ســی زما دســنتو سره او زما دخلفاوو چي پوهان دي اوپر هدایت دي دهغو د سنتو سره لازم سی،تا سو په هغه باندي لاس نیوی وکړی او په نواجذ غا ښو باندي ټینګ ونیسی،او تا سو ځان و ساتی دځانه جوړ سوي امورو څخه ،ځکه هر دځانه جوړ سوی امر بدعت دی،او هر بدعت ګمراهي ده".

په دغه حدیث کي ثـابته سوه چي دسنت اطلاق په مقابل کي دبدعت راغلی دی،نو ددغه له وجهي څخه مخکني محدثينو خپل کتابونه په سنت سره مسمی کړيدي،لکه:السنة لمحمد بن نصـــر المروزي،السنة لإبن أبي العاصم،السنة للألكائي،او داسي نور.....

۴.سنة په معنی دمندوب او مستحب: دا هغه ځایونه چي نبيﷺ امر کړيوي دیو عمل کولو خو په طریقه داستحباب وي نه په طریقه سره دوجوب.

---

۱ رواه البخاري/كتاب النكاح/باب الترغيب في النكاح( ٥٠٦٣)

۲ رواه الحاكم

۳ رواه أبو داود كتاب السنة/باب في لزوم السنة(٤٦٠٧) .

سنة چي په معنی دحدیث وي پر درې (۳)قسمه دي[1]:

۱ : قولیة،لکه: إنما الأعمال بالنیات...            ۲ : فعلیه،لکه:دنبي ﷺ لمونځ.

۳ : تقریریة،لکه:دصحابه کرامو عمل چي د نبي ﷺ و مخته ئي کړی وي او هغه ﷺورباندي سکوت کړی وي .

## ځلورم مطلب :

### د سنة أهمیت :

د امت پر هر فرد دا لازمه ده چي دنبي ﷺ دسنتو به ټینګه پیروي کوي ،او ادب به یې ساتي،

ځکه چي د سنة اهمیت په اسلام کي ډېر لوی دی،او سنت د قران کریم شرحه او مهمه سرچینه ده.

سنة دقرآن کریم دآیاتونو شرحه او وضاحت دی مثلا:په قرآن کریم کي دلمانځه حکم سوید ی خو درکعتو تعداد،او وختونه تفصیلا نه دي بیان سوي ،لیکن رسول الله ﷺ موږ ته دا هرڅه بیان کړیدي ،اونبي ﷺ موږ ته دسنتو داتباع امر کړیدی،ځکه حدیث شریف کي راځي: (عن العرباض بن سارية السلمي رضي الله عنه قال :وعظنارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موعظة، ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب ، قلنا :يا رسول الله كأنها موعظة مودع فأوصنا، قال: أوصيكم بتقوى الله والسمع والطاعة، وإن كان عبداً حبشياً، فإنه من يعش منكم بعدي فسيرى اختلافاً كثيراً، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين فتمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور، فإن كل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة[2]) ژباړه:"دعرباض بن ساریة السلمي رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي ﷺ موږ ته نصیحت وکی داسي نصیحت یی راته وکی چي سترګو دهغه څخه بهېدل وکړل ،او زړونه وبېرېدل،موږ ورته وویل اې دالله تعالی رسوله!ګواکي دا نصیحت درخصت اخیستلو نصیحت دی نو ته موږ ته و صیت وکړه، نبي ﷺ وفرمایل:زه تا سو ته و صیت کوم چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ څخه وبېرېږی،او دامیر خبري ته غوږ نیسی او اطاعت یي کوی که څه هم حبشي مریی وي،ځکه شان دادی که څوک ږوند وکړي ستاسو څخه وروسته زما نو ژر دی ډېر اختلافات به ووینې ،نو تاسو لازم سی زما دسنتو سره او زما دخلفاوو چي پوهان دي اوپر هدایت دي دهغو دسنتو سره لازم سی،تاسو په هغه باندي لاس نیوی وکړی او په نواجذ غاښو باندي ټینګ ونیسی،او تاسو ځان وساتی دځانه جوړ سوي امورو څخه ،ځکه هر دځانه جوړ سوی امر بدعت دی،او هر بدعت ګمراهي ده".

---

۱ الاعتصام .

۲ رواه أبو داود كتاب السنة/باب في لزوم السنة(۴۶۰۷) .

او سنت درسول الله ﷺ طريقه ده ،او نبي ﷺ زموږ او ستاسو لپاره يوه غوره نمونه ده،لکه الله جَلَّ جَلَالُهُ چي فرمائي:(لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو الله وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ الله كَثِيراً) [الأحزاب٢١]

ژباړه:"(اې مؤمنانو!)يقينا تاسو ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ په رسول کي غوره (او ښايسته)اقتداءپرته ده (نو استفاده ورڅخه وکړي،البته دا)دهغه چا لپاره کوم چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ دلقاء (ديدار)دوروستنۍ ورځي (دقيام)اميد لري او الله جَلَّ جَلَالُهُ ډير يادوي".

په سنتو عمل کول دايمان او دمسلمان دعمل لپاره بنسټ او اساس دی.

که څوک غواړي چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت وکي او دادمحبت دعوه رېښتوني کړي نو پر دغه کس لازمه ده چي دنبي ﷺ اتباع به کوي بيا به نو الله جَلَّ جَلَالُهُ هم ددغه کس سره محبت کوي او هم به دګناهونو عفوه ورته کوي.لکه څنګه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائي: (قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ الله فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ الله وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَالله غَفُورٌ رَحِيمٌ )[ال عمران ٣١]

ژباړه:"ورته ووايه (اى پيغمبره!)که چيري تاسو(اې خلګو!)ياست چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت ولرى نو زما متابعت وکړى ، الله جَلَّ جَلَالُهُ به ستاسو سره محبت وکړي،او تاسو لره به ستاسو دګناهونو بخښنه وکړي،او الله تعالى بخښونکى (او) مهربان دى".

نو که څوک دالله جَلَّ جَلَالُهُ سره دمحبت دعوه کوي او دنبي ﷺ اتباع نه کوي نو دا کس په دا خپله دعوه کي کاذب او درواغجن دی.

دالله درسول ﷺ اطاعت کول دا عين طاعة دالله جَلَّ جَلَالُهُ دی.لکه څنګه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائي: (مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ )[النساء: ٨٠] ژباړه:"څوک چي درسول اطاعة کوي نو ده يقينا دالله جَلَّ جَلَالُهُ اطاعة وکی"،او زموږ او ستاسو مقصد همداغه دی چي الله جَلَّ جَلَالُهُ وپيژنو ،اطاعت يې وکړو،اوامر يې پر ځاى کړو ،او دنواهيو څخه يې ځان وساتو.نو ددې عظيم مقصد راسته راوړلو لپاره پرموږ لازمه ده چي دنبي ﷺ اتباع وکړو ،دده ﷺ په منهج او طريقه باندي روان سو ،دده ﷺ لارښووني تعقيب کړو ،او دمخالفة څخه يې ځان وساتو.

سنت د مسلمان لپاره د ژوند په ټولو اړخونو کي لارښود دی، لکه عبادات، معاملات، اخلاق، او ټولنيز چلند.

که کوم مشکل انسان ته پيش سي يا څه جنجال مخته راسي نو سنت يوازنى هغه لاره ده چي دهر مشکله څخه انسان په ساتل کيـــږي،لکه څنګه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائي: (فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى الله وَالرَّسُولِ)[النساء٥٩] ژباړه:"که چيري تاسو منازعه او جګړه وکړى په يو شي کي نو تاسو هغه رد کړى الله او رسول ته" .

يعني چي په هرشي کي تاسو ته اختلاف پيش سي تاسو هغه په قرآن او سنة باندي عرض کی نو د مشکل حل لاره به درته پيدا سي او ددې مشکل څخه به خلاص سی .

او زموږ او ستاسو دخلاصون لار په همدا سنتو سره ده،چي دسنتو اتباع وکړو دهر مشکله څخه به په آمان يو،ځکه حبيب ﷺ موږ ته ټوله دين کاملا او مکملا بيان کړيدی،هيڅ داسي څه نسته چي په ږوند کي ورته اړتيا او حاجت وي او دالله حبيب ﷺ موږته نه وي بيان کړي.ځوک چي دالله ﷻ پر لار روان سي او دهمدې لاري اتباع وکړي دا کس بيا نه گمراه کيږي ،اد دالله ﷻ اتباع خو په اتباع کي در سول ﷺ پرته ده،لکه څنگه چي الله ﷻ فرمائي: (فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَايَشْقَى) [طه:١٢٣] ژباړه:"نو هغه ځوک چي زما دلاري اتباع وکړي نو نه به گمراه کيږي او نه به بد بخته کيږي".

او دامت لپاره داده چي نبي ﷺ په څه راتگ کړيدی دهغه اخذبه کوي او دکوم څه څخه چي يي منعه کړېده دهغه څخه به ځان ساتي ،لکه څنگه چي الله ﷻ فرمائي: (وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ الله شَدِيدُ الْعِقَابِ) [الحشـــر:٧] ژباړه:"اوهغه څه چي تاسو ته رسول راوړي دي وايي خلی او هغه څه چي تاسو يي دهغه څخه منعه کړي ياست نو ځان ورڅخه وساتی او دالله ﷻ څخه وبيرېږی يقينا الله ﷻسخت عذاب ورکوونکی دی".

که چيري يو کس يو ســنت دنبي ﷺ راژوندی کړي او هغه په خلگو کي پاته ســويوي الله ﷻپه کامل اجر ورکړي او هغه ځوک چي وروســته بيا په دا ســـنت عمل کوي دهغه اجر به هم الله ﷻ ده ته ورکوي بيله دې څخه چي دعمل کوونکي دأجرة څخه څه کمی راسي،ځکه حديث شريف کي راځي: (وعن بلال بن الحارث أن النبيﷺ قال لــه :إعلم قال :ما أعلم يا رسول الله؟ قال :إعلم يا بلال قال ذروني أعلم يا رسول الله؟ قال :إنه من أحيا سنة من سنتي قد أميتت بعدي فإن له من الأجر مثل من عمل بها من غير أن ينقص من أجورهم شـيئاً، ومن ابتدع بدعة ضـلالة لا ترضى الله ورسوله كان عليه مثل آثام من عمل بها لا ينقص ذلك من أوزار الناس شيئا[١]) ژباړه:"دبلال بن الحارثؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ورته وويل:پوه سه،بلال ؓ ورته وويل :په څه پوه سم اي دالله ﷻرسوله؟نبي ﷺ ورته وفرمايل پوه ســـه اي بلاله!بلال ؓ ورته وويل اجازه راکړه چي پوه ســـم اي دالله ﷻرســـوله!نبی ﷺ ورته وفرمائل: شان دادی چي ځوک يو سنت زما د سنتو څخه راژوندی کړي چي هغه زما وروسته پاته سويوي دده لپاره دهغه ټولو کســـانو اجر دی چي په دا ســـنت عمل کوي ،بغير له دې څخه چي ددوی داجر څخه څه کمی راسي،او که ځوک گمراه بدعت ايجاد کړي چي الله ﷻاو دالله رسول ﷺپه راضي نه وي ،پر ده باندي دهغه ټولو کسانو گناه ده چي په دې بدعت باندي عمل کوي ،بيله دې څخه چي ددوی دگناهو څخه څه کمی راځي".

---

١ رواه الترمذي/ابواب العلم/باب ما جاء في الأخذ بالسنة واجتناب البدع(٢٦٧٧)

## پنځم مطلب :

### دسنة د اتباع ( پیروي ) نه کولو تاوانونه او پایلي:

که څوک د سنتو اتباع نه کوي نو دهر رکم مشکلاتو سره به مخ کیږی ستونزي به مخته راځي خو دخلاصون لار یي همدا سنة ده.

ځکه دسنت په مخالفة سره سړی به فتنه کي واقع کیږي او دالله ﷻ دعذاب سره مخ کیږي،اودغه رنګه دنبي ﷺاتباع نه کول او نافرماني کول دا عین دجنت دداخیلېدو څخه انکار دی،څکه نبي ﷺ فرمائي: (کل أمتي يدخلون الجنة الا من أبى قالوا ومن يأبى؟ قال من أطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد أبي[١]) ژباړه:"زما تول امت به جنت ته داخلیږي مګر هغه څوک نه داخلیږي چي انکار وکي ،صحابه عرض وکی چي څوک انکار کوي؟نبي ﷺورته وویل چا چي زما اطاعت وکی هغه جنت ته داخل سو او چا چي زما نافرماني وکړل هغه دجنت دداخیلېدو څخه انکار وکی".

زموږ او ستاسو مقصود دالله ﷻ رضا ده او دالله ﷻرضا په هغه لاره کي پیدا کیږي چي نبي ﷺ موږ ته را ښوولي ده،او که چیري موږ په نورو لارو پسې ښو الله ﷻ به مو ددغه حق لاري څخه واړوي ،لکه څنګه چي الله ﷻ فرمائي: (وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ)[الأنعام١٥٣] ژباړه:" او ته دهغو کسانو دخواهشاتو پیروي مه کوه چي زموږ آیاتو ته ددرواغو نسبت کوي،او دهغه کسانو (دخواهشاتوپیروي هم مه کوه) چي په آخرت باندي په داسي حال کي عقیده نه لري چي دخپل رب ﷻسره (په عبادت کي بتان) برابروي. (ستا امت دي نه هغوی شاهدي مني او نه دي دکافرانو دخواهشاتو پیروي کوي)".

داغه رکم بل حدیث شریف کي راځي: (وعن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال :خط لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم خطاً، ثم قال :هذا سبيل الله ، ثم خط خطوطاً عن يمينه وعن شماله، ثم قال :هذه سُبل على كل سبيل منها شيطانٌ يدعو إليه،ثم قرء(وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ) [الأنعام١٥٣] ژباړه:"دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وای دالله رسول ﷺموږ ته یو سیده خط کش کی،بیا یی وویل: دا دالله ﷻ لار ده،بیا یي نوري خطي راسته او چپه طرفته کش کړلي،بیا یي وویل دا هغه لاري دي چي په هره لاره کي شیطان ولاړ دی او خلګ رابولي،او بیا یي دغه مخکنی آیة تلاوت کی".

یعني یوازي دغه یوه لار ده چي الله ﷻته سړی رسیږي چي دنبي ﷺ طریقه ده نوري تولي لاري خطا دي .

---

١ بخاري/كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة/ باب الاقتداء بسنن رسول الله ﷺ (٧٢٨٠)

که سړی دسنة په عملي کولو کي سستي کوي یا یي ادب نه ساتي یا دا تحقیق نه کوي چي دا عمل دسنت په نامه کوم ایا دا سنت درسول الله دی که نه؟نو سړی په ډېرو ګناهونو کي واقع کيږي ،چي یوه ډیره بده ګناه په هغه کي بدعت دی ،سړی باید ددې هر څه څخه ځان وساتي.

## دوهم فصل

## اول مبحث د بدعت پيژندنه،د بدعت کوونکو پايلي

### اول مطلب :

### د بدعت پيژندنه :

### الف: د بدعت لغوي معنی :

بدعت هر هغه نوی شی دی چي له پخوا څخه بېلګه نه لري، که نبه وي او که بد، دا د" بدع الشيء "څخه اخيستل سوی دی، چي معنا يي ده يو شی له سره جوړول او اختراع کول.

ابن فارس وايي:

بدع :د باء، دال، او عين څخه مأخوذ دی دوې اصلي معناوي لري: يو يي د يو شي پيل او جوړول پرته له کومي بېلګي، او بله معنی پرېکون او ستړياده.

په قرآن کي الله تعالی فرمائي:(قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ) [الأحقاف :٩] ژباړه:"ورته ووايه! زه لومړنی رسول نه یم، زمامخکي ډېر رسولان راغلي دي".

بديع د الله تعالی له نومونو څخه دی ځکه چي هغه هر څه بېله بېلګي پيدا کړي دي .

دلته بدعت داولني حالت پيدا کولو په معنی دی.

د کلمې دويم اصل انقطاع او ستړيا:

عربي مقوله ده "أبدعت الإبل "يعني او ښان په لاره کي د کمزورۍ، ناروغۍ، يا ستړيا له امله کښېنستل،په حديث کي راغلي دي:إني أبدع فأحملني يعني زه ستړی سوی يم، نو پر ما بار واچوئ .

دلته بدعت دستړيا په معنی دی.

## باء: د بدعت اصطلاحي معنى :

دبدعت په اصطلاحي تعریف کي دعلماوو إختلاف دی.

د علماوو ترمنځ إختلاف:

په اصطلاحي لحاظ د بدعت په تعریف کي علماوو یو نظر نه دی وړاندي کړی .دوی په دوو ډلوباندي وېشل سوي دي:

لومړی ډله:

دې ډلي د بدعت مفهوم پراخ کړیدی او هر هغه څه یي پکښې شامل کړیدي چي د رسول الله ﷺ له رحلت وروسته پېښ سویدي، که ښه وي که بد.

دوهمه ډله:

دې ډلي د بدعت مفهوم یوازي په هغو پېښوکي محدود کړیدی چي خراب یا ناروا وي، هغه چي په شریعت کي دلیل نه لري او د کوم شرعي اصـل لاندي نه راځي، که په عباداتو کي وي یا په عادي کارونو کي چي د عبادت په نیت ترسره سي،د دې ډلي په نظر بدعت په مقابل کي د سنت سره تړاو لري.

د تعریفونوتر مینځ فرق:

د دې دوو نظریو له امله د بدعت تعریف هم ویشل سویدی:

لومړی نظر:

دا کسان بدعت په دوو برخوتقسیموي:( محموده )ښه بدعت او( مذمومه) خراب یا بد بدعت.

دویم نظر:

د دوی په نظر بدعت یوازي مذمومه دي.

اوله ډله کسان دبدعت تعریف داسي کوي :

بدعت هغه څه دی چي په دین کي د رسول الله ﷺ له وخت وروسته نوي رامنځته سویوي، که ښه وي که بد.

د دې له مخي دوی بدعت په دوو برخو ویشي:

محموده :هغه بدعتونه چې په دين کي ښه بلل کېږي.

مذمومه :هغه بدعتونه چې په دين کي بد گڼل کېږي.

ځيني علماء د دې تعريف پر همدې ويش بســنه کوي، خو نورعلماء د بدعت لپاره د پنځو شرعي احکامولکه:(واجب، مستحب، مباح، مکروه، حرام)قائله هم دي.

د هغو علماوو له ډلي څخه چې بدعت په محموده او مذمومه باندي وېشي، امام شافعي رحمه الله دى[1]، هغه وايي:

بدعت په دوه ډوله دى: بدعت محموده ،او بدعت مذمومه،هر څه چې د سنت سره موافقت ولري، هغه بدعت محموده دى، او هر څه چې د سنت خلاف وي، هغه بدعت مذمومه دى.

امام شــافعي رحمه الله د دې نظر د تائيد لپاره په دليل کي د حضـــــرت عمر رضي الله عنه وينا راوړي، کله چې عمر رضي الله عنه د رمضـان دمياشتي تراويح په جماعت سره وگرځولي باره يي وويل:

"نعمت البدعة هذه[2]" ژباړه:"(دا ښه بدعت دى)

د امام شــافعي رحمه الله د دې وينا له مخي بدعت تل په مطلق ډول مذموم نه دى، هغه په دې عقيده دى چې هر نوى کار بايد د سنت او شريعت د ا صولو په رڼا کي وځېړل سي. که هغه کار د ديني ارز ښتونو او شريعت سره همغږي ولري، نو د بدعت محموده په نوم يادېږي، خو که د دين خلاف وي، نو د بدعت مذمومه په نوم يادېږي.

د ابن الجوزي رحمه الله نظر:ابن الجوزي د بدعت په اړه وايي:

بدعت هغه عمل ته ويل کيږي چې مخکي نه وو،وروسته اختراع سو، په عموم کي د بدعتونو ځانگړتيا دا ده چې د شريعت مخالفت کوي، د شريعت په زياتولو يا کمولو کي لاس وهنه کوي، که يو نوى عمل جوړ سي چې د شريعت مخالفت ونه کړي او په هغه کي لاس وهنه ونه سي، نو د سلفو اکثره علماوو له دې سره احتياط کاوه او له هر ډول بدعت څخه يي ځان لري کاوه، که څه هم جواز يي درلودى، ترڅو د اصل (يعني د پيغمبر ﷺ دسنتو) ساتنه وکړي[3].

---

١ حلية الاولياءوطبقات الاصفياء .

٢ رواه البخاري/كتاب صلوةالتراويح/ باب فضل من قام رمضان(١٩٠٦)

٣ تلبيس ابليس لابن الجوزي .

ابن الجوزي رحمه الله هم په دليل کي د حضرت عمر رضي الله عنه وينا "نعمت البدعة هذه[1]" د استدلال په توګه راوړي.

العز بن عبد الســلام رحمه الله دبدعت تعريف داسي کوي :بدعت هغه عمل دی چي د رســول الله ﷺ په زمانه کي نه وو مروج وروسته بيا رواج سو.

العز بن عبد السلام ،قرافي، امام نووي،او ابن حجر رحمة الله عليهم بدعت په پنځه برخوتقسيمويږ:

واجب بدعت: هغه بدعت چي د شريعت له قواعدو څخه د وجوب ترحکم لاندي راځي.

حرام بدعت: هغه بدعت چي د شريعت له قواعدو څخه د تحريم تر حکم لاندي راځي.

مندوب بدعت:هغه بدعت چي د شريعت له قواعدو څخه د استحباب تر حکم لاندي راځي.

مکروه بدعت: هغه بدعت چي د شريعت له قواعدو څخه د کراهت تر حکم لاندي راځي.

مباح بدعت: هغه بدعت چي د شريعت له قواعدو څخه د اباحت تر حکم لاندي راځي.

که يو عمل د شريعت د وجوب تراصــولو لاندي راسي، لکه د علم د زده کړي لپاره د وســايلو برابرول (چي په اصــل کي فرض کفايه وي)، نو هغه بدعت واجب دی.

که يو عمل د حرام ا صولو لاندي راسي، لکه په دين کي داسي بدعت راو ستل چي د دين ا صلي ا صول بدل کړي، نو هغه بدعت حرام دی.

که يو عمل د مندوب اصولو لاندي راسي، لکه د خير لپاره ځيني نوي کارونه ترسره کول، نو هغه بدعت مندوب دی

که يو عمل د مکروه اصولو لاندي راسي، لکه بي ضرورته په دين کي اضافي سختۍ راوستل، نو هغه بدعت مکروه دی.

که يو عمل د مباح اصولو لاندي راسي، لکه د ژوند عادي چارو کي نوښتونه چي ديني اغيزه ونه لري، نو هغه بدعت مباح دی[2].

دويم: هغه کسان چي بدعت په مطلق ډول مذموم بولي:

[1] رواه البخاري/كتاب صلوةالتراويح/ باب فضل من قام رمضان(١٩٠٦) .

[2] قواعد الاحكام في مصالح الانام.

داړلـه علماء په دې قائله دي چي بدعت د هغه څه په اړه کارول کيږي چي په دين کي نوي رامنځته سوي وي او په شرعي ا سا ساتو کي هيڅ ا صل ونه لري، او بدعت مطلقاً مذموم ګڼل کيږي. دې نظر ته د امامانو او علماوو څخه چي ددې قائله دي يوله هغو څخه امام مالک رحمه الله دی چي ويلي يي دي:

چا چي په اســلام کي داسي بدعت رامنځته کی چي هغه ښــه ګڼي، نو هغه داسي إدعا وکړه چي ګواکي محمد ﷺ خپل رسالت نه دی ادا کړی؛ځکه الله جل جلاله فرمائي:(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)[المائدة:٣] ژباړه:"نن ورځ ما پر تا سو باندي خپل دين پوره کی".

نو هغه څه چي په هغه وخت کي دين نه وو، نن ورځ هم دين نه سي کيدای[١].

## د امام احمد رحمه الله قول:

امام احمد رحمه الله وايي: د سنتو ا صول زموږ په نيزد دادي چي د رسول الله ﷺ د ا صحابو په کړنو لاس ټينګ ونيسو، د هغوی پيروي وکړو، له بدعتونو ځان وژغورو،ځکه (كل بدعة ضلالة )هر بدعت ګمراهي ده[٢].

د دې لاري پيروانو کي ابن وضاح رحمه الله هم شامل دی، چي په خپل کتاب "البدع والنهي عنها" کي د (كل محدثةبدعة)په نامه يو باب ځانګړی کړيدی، او هغه آثار يي راوړيدي چي دا نظر تاييدوي او تقويه ورکوي.

## د ابن تيميه رحمه الله په نيزد دبدعت تعريف:

ابن تيميه رحمه الله دبدعت داسي تعريف کړيدی:چي په دين کي بدعت هغه شــی دی چي الله جل جلاله او د هغه رســول ﷺ نه دي مشروع کړی، او نه يي د وجوب يا استحباب په توګه امر کړيدی[٣].

ابن رجب رحمه الله وايي:د بدعت څخه مراد هغه څه دي چي د شريعت په اصــولو کي يي هيڅ بنياد نه وي، او نوی ايجاد سويوي، خو هغه څه چي په شريعت کي يي بنياد او دليل موجود وي، هغه بــــدعت په شرعي لحاظ نه ګڼل کيږي، که څه هم په لغوي لحاظ بدعت بلل کيدای سي[٤].

---

١ الاعتصام،٤٩/١
٢ طبقات الحنابلة،٢٤١/١
٣ مجموع الفتاوی،١٠٧/٤
٤ جامع العلوم والحكم،٢٣٣

حافظ ابن حجرﷺهم د همدي نظر قائله دی، د عبدالله بن مسعود ﷺد دي قول (وشرالامور محدثـــاتها )په شرح کي وايي:

چي شر دکاروهغه دي چي په دین کي نوي پیدا سي ، مطلب هغه څه چي نوي ایجاد ســـویوي او په شرع کي یي هیڅ خاص یا عام دلیل موجود نه وي نو دا بدعة دی اوضلالة دی[1].

په دې برخه کي د امام شاطبي ﷺوینا تر ټولو روښانه او مفصله ده. هغه بدعت په دوه ډوله تعریف کړی دی:

لومړی تعریف:

(البدعة طريقة في الدين مخترعة تضـاهي الشـــــــرعية يقصـد بالسـلوک علیها المبالغة في التعبد لله سـبحانه وتعالی[2])ژباړه:"بدعت یوه په دین کي نوي رامنځته ســـوي طریقه ده چي د شریعت سره ورته والی لري او هدف یي د الله سبحانه وتعالی په عبادت کي ډېرښت او افراط وي".

دا تعریف د هغو کسانوپه اعتبار دی چي یوازي عبادتونه د بدعت په معنا کي شاملوي او عادتونه نه پکښي شاملوي.

دویم تعریف:

(البدعة طريقة في الدين مخترعة تضاهي الشرعية يقصد بالسلوک علیها ما يقصد بالطريقة الشرعية[3])

ژباړه:"بدعت یوه په دین کي نوي اختراع سوي طریقه ده چي د شریعي طریقي سره ورته والی لري او مقصود یي هغه څه وي چي په شریعت کي مقصود وي".دا تعریف د هغو کسانو په اعتبار دی چي عادتونه هم د بدعت په معنا کي شاملوي،خو دا تعریف دلته نه شاملیږي،ځکه چي صحیح نظر دا دی چي په عادتونو کي یوازي هغه عادت په بدعت کي شاملیږي چي په نیت د عبادت ترسره کیږي.

وروسته امام شاطبيﷺد تعریف الفاظ تشریح کړیدي:

الطريقة (طریقه یا لار): هغه څه چي د سلوک لپاره ټاکل سویوي.

---

١ فتح الباري، ج ١٣ص ٢٥٣-٢٥٤

٢ـ ٣ الاعتصام، ١ / ٣٧ - ٤٢.

في الدين (په دين کي): دا يو قيد دی چي د دنيا په چارو کي اختراعات ورڅخه وباسي.

ددې قيد په تشـــــريح کي شـاطبي رحمه الله وايي چي بدعت ځکه په دين پوري محدود سـو، ځکه يوازي په دين کي نوي اختراعات بدعت بلل کيږي، او هغه شيان چي په دنياوي چارو کي ايجاد سويوي بدعت نه بلل کيږي. د مثال په توګه: د نوي ښارونو جوړول يا د هغو وسايلو اختراع چي مخکي نه وه موجود، بدعت نه بلل کيږي.

مخترعة (نوي اختراع شـوي): داقيددا معنا لري چي دغه عمل په شريعت کي هيڅ بنياد يا اصـل نه لري او د شريعت سره هيڅ تړاو نه لري،ځکه بدعت له هغو عملونو سره فرق لري چي شريعت تاکلي دي، ځکه بدعت هغه شـــی دی چي له شريعت څخه خارج وي.

دغه قيد (مخترعة) هغه څه مستثنی کوي چي په دين کي نوي سويوي، خو په شريعت بنياد ولري، د مثال په توګه: د شرعي علوموتصـــنيف کول، که څه هم دا د لومړيو وختونو په ديني چاپيريال کي موجوده نه وو، خو د دې اصـــول په شريعت کي موجود دي، دا د مصالح مرسله له قاعدې څخه اخيستل سويدی، او دا ډول اشياءد اصلي بدعتونو په ليست کي نه راځي.

څوک چي دا ډول چاري بـــــــدعت بولي، يا خو د بدعت لغوي مفهوم مرادوي، لکه څنګه چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه د تراويح لمونځ د خلکو په جماعت کولو سره "بدعت" وباله، يا به د سنت او بدعت تر منځ په فرق پوه نه وي.

تضـاهي الشـــــرعية (د شريعت سره ورته والی): بدعت په داسي طريقه ترسره کيږي چي د شريعت په طريقه باندي ورته والی ولري، خو په حقيقت کي د شريعت سره په ډيرو برخو کي مخالف وي.ددې څه مثالونه لکه:په ځانګړو طريقو ټينګار: لکه د ذکر کولو په وخت کي په ګډه په يوه غږ سره ذکرکول، اوياد رسـول الله ﷺ د زيږېدو ورځ د جشـن په توګه نيول، يا نور ورته اعمال.

بـــــدعت د شريعت په بڼه کي وړاندي کيږي، خو په حقيقت کي د هغه مخالف وي، دا په دې اسـاس ترسره کيږي چي د سنت سره ورته والی ښکاره کړي، يا خو د خلکو د تيرايستلو لپاره، يا مبتدع پخپله په سنت او بدعت کي ګډوډ وي.

د بدعت لپاره د "تعبد" نيت:د بدعتونو هدف معمولاً د الله تعالی جل جلاله د عبادت په لاره کي مبالغه او افراط دی،دا قيد د هغو عادي عملونو څخه بدعت جلا کوي چي د عبادت قصد پکښي نه وي، نو هر څه چي د شريعت د حدودو څخه اضافه وي او په دين پوري تړل کيږي، که دعبادت زياتوالی يا د عبادت د تشويق په موخه وي دا بدعت دی او مذموم دی.

## كوم كسان چي دبدعت دتقسيم قائله دي دهغوی دلائل:

كوم كسان چي بـدعت په مطلق ډول مذموم نه بولي دهغوی ددلائلو څخه يو دليل د عمر رضي الله عنه قول دی: كله چي يي خلك د رمضان د قيام لپاره په جماعت راټول كړل، ويي ويل: (نعمت البدعة هذه[1]) دا ښه بدعت دی.

د دې قول څخه د دليل اخستلو وجه دا ده چي عمر رضي الله عنه دغه عمل بدعت وباله، خو هغه يي په داسي طريقه ياد كړ چي د هغه عمل ښه والی ورڅخه معلومېږي، نودا په دې دلالت كوي چي په شريعت كي ځيني بدعتونه ښه بلل سويدي.

بل دليل:د مسلم شريف روايت دی: (عن جرير بن عبد الله - رضي الله عنه - أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «من سن في الإسلام سنة حسنة فله أجرها وأجر من عمل بها بعده من غير أن ينقص من أجورهم شيء، ومن سن في الإسلام سنة سيئة كان عليه وزرها ووزر من عمل بها من بعده من غير أن ينقص ذلك من أوزارهم شيء[2]) ژباړه:"د جرير بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:ثوك چي په ا سلام كي يو ښه سنت (طريقه) رامنځته كړي، هغه ته به د خپل عمل اجر وركړل سي او د هغو كسانو اجر به هم وركول سي چي تر ده وروسته په دې عمل وكړي، پرته له دې چي د هغوی له اجرو څخه څه كم سي،او ثوك چي په اسلام كي يو بد سنت رامنځته كړي، هغه ته به د خپل عمل گناه وركړل سي او د هغو كسانو گناه به هم وركل سي چي تر ده وروسته په دې عمل وكړي، پرته له دې چي د هغوی له گناهونو څخه څه كم سي".

### امام نووي رحمه الله وايي:

په دې حديث كي د رسول الله ﷺ په دې قول كي تخصيص سته: (وكل محدثة بدعة)ژباړه:"هر نوي اختراع بدعت دی"،مطلب يي دا دی چي دلته د نوي اختراعاتو څخه مراد هغه باطل او مذموم بدعتونه دي[3].

دا حديث په ښكاره ډول وايي چي كه ثوك د خير يوه لاره رامنځته كړي، نو دا يو ښه عمل دی. دلته د سن (يوه سنت رامنځته كول) معنا دا ده چي يو نوی عمل ايجاد كړي يا بدعت وكړي، ځكه چي دلته استنان د مكلف (انسان) سره تړاو لري، نه د شريعت سره، كه دلته مراد هغه عمل وای چي مخكي له شريعت څخه ثابت دی، نو بيا به نبي ﷺ ويلي وای: ثوك چي يو سنت عملي كړي،دا سن به يي مطلق نه ذكر كولای.

---

١رواه البخاري /كتاب صلوةالتراويح/ باب فضل من قام رمضان(١٩٠٦)

٢ صحيح مسلم/كتاب الزكاة/ باب الحث على الصدقة.

٣ صحيح المسلم بشرح النووي١٠٤/٧

ددي قول داثبات لپاره د رســول الله ﷺ دا قول دی: (ليس من نفس تقتل ظلما إلا كان على ابن آدم الأول كفل منها - من دمها - لأنه أول من سن القتل[1]).

ژباړه:"هيڅ داسي نفس په ظلم سره نه وژل کيږي، مگر دا چي دآدم عليه السلام داول زوی (قابيل )په برخه کي بــه د هغه سزا هم شامله وي ځکه دی اول هغه کس دی چي قتل يي ايجاد کی".

دآدم عليه السلام زوی په لومړي ځل د قتل بنسټ کښېښودی، ځکه هغه د وژني لاره پرانيستله، او تولي وژني له ده څخه پيل سوي، لکه څنگه چي رسول الله ﷺ فرمايي: (سن القتل) هغه د قتل بنسټ کښېښودی، نو د هر وژل سوي شخص په جرم کي به شريک وي، نوځکه قابيل لومړی کس وو چي د انسانانو ترمنځ يي قتل ايجاد کی، چي مخکي نه وو موجود.

او همدارنگه د رسول الله ﷺ مخکنی قول دی: څوک چي په اسلام کي يوه ښه سنت رامنځته کړي يعني هغه کس چي خپله له ځانه يو نوی عمل ايجاد کړي او د ښه نيت سره يي پيل کړي، خو شرط دا دی چي دغه عمل ښه عمل وي، ترڅو د دي عمل اجر ورته ورسيږي.

نو په دې کي مراد دا نه دی چي څوک د شريعت کوم ثابت ســـنت عملي کړي، که مراد دا وای، نو رســول الله ﷺ به ويلي وای:څوک چي زما کوم سنت عملي کړي، يا څوک چي زما د سنتو څخه کوم سنت ژوندی کړي.

بل دليل: د ترمذي روايت دی : (وعن بلال بن الحارث ان النبيﷺ قال لـه: اعلم قال: ما اعلم يا رسول الله؟ قال: اعلم يا بلال قال ذروني أعلم يا رسول الله؟ قال: إنه من أحيا سنة من سنتي قد أميتت بعدي فإن له من الأجر مثل من عمل بها من غير أن ينقص من أجورهم شيئاً، ومن ابتدع بدعة ضلالة لا ترضى الله ورسوله كان عليه مثل آثام من عمل بها لا ينقص ذلك من أوزار الناس شيئا) [2]ژباړه:"دبلال بن الحارثرضي الله عنه څخه روايت دی چي رسـول الله ﷺ ورته وويل:پوه سه،بلال رضي الله عنه ورته وويل :په څه پوه ســم اي دالله جل جلاله رسـوله؟نبي ﷺ ورته وفرمايل پوه ســه اي بلاله!بلال رضي الله عنه ورته وويل اجازه راکړه چي پوه سم اي دالله جل جلاله رسوله!نبي ﷺ ورته وفرمائل: شان دادی چي څوک يو سنت زما د سنتو څخه راژوندی کړي چي هغه زما ورو سته پاته سويوي دده لپاره دهغه ټولو کسانو اجر دی چي په دا سنت عمل کوي ،بغير له دي څخه چي ددوی داجر څخه څه کمی راسي،او که څوک گمراه بدعت ايجاد کړي چي الله جل جلالهاو دالله رســول ﷺ په راضي نه وي ،پر ده باندي دهغه ټولو کســـانو گناه ده چي په دې بدعت باندي عمل کوي ،بيله دي څخه چي ددوی دگناهو څخه څه کمی راځي".

---

[1] أخرجه البخاري في كتاب الاعتصام. باب إثم من دعا إلى ضلالة أو سن سنة سيئة.

[2] رواه الترمذي/ابواب العلم/باب ما جاء في الأخذ بالسنة واجتناب البدع(٢٦٧٧).

د رسول الله ﷺ دا قول: (من أحيا سنة من سنتي قد أميتت بعدي.....)ژباړه:"څوک چې زما کوم سنت ژوندی کړي چې زما له وفات وروسته ختم سوی وي"، ددې څخه دا معلومېږي چې دلته مراد هغه عمل دی چې په سنتو کې ثابت وي.

او د رسول الله ﷺ دا قول: (ومن ابتدع بدعة ضلالة لا ترضى الله ورسوله)ژباړه:"او څوک چې یو گمراه بدعت رامنځته کړي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه رسول ﷺوربا ندي نـه راضي کیږي"، ددې څخه دا معلومېږي چې هر بدعت په مطلق ډول مذموم نه دی، بلکې هغه بدعت مذموم دی چې گمراهي پکښې وي او د الله جَلَّ جَلَالُهُاو د هغه د رسول ﷺ د خوښی وړ نه وي[1].

بل دلیل:د ابن مسعود رضي الله عنهموقوف حدیث دی، چې ویلي یې دي: (ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن) ،هغه څه چې مسلمانان یې ښه گڼي، هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُپه نیزد هم ښه دي.

له دې څخه دا معلومېږي چې مسلمانان په خپل عقل یو شی ښه وگڼي هغه دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نیزد هم ښه دی ،نو چې دوی په دین کې یو بدعت پیدا کړي او حسن یې وگڼي نو دا بدعت حسنة دی.

## کوم علماء چې بدعت مطلق مذموم بولي دهغوی دلائل:

دا ډله علماء وایي چې بدعت مطلقاً بد او مذموم دی او خپله ادعا د قرآني او نبوي دلائلو په اساس ثابتوي:

الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کې فرمائي:(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الأِسْلامَ دِيناً) [المائدة ٣] ژباړه:"نن مې ستا سو لپاره ستا سو دین پوره کی ،اوپر تا سو باندې مې خپل نعمت بشپړه کی، او ستا سو لپاره مې ا سلام ددین په توگه غوره کی".ددې آیـت څخه دا معلومېږي چې شریعت په کامله توگه بشپړ دی، په هغه کې زیاتوالی یا کمښت ته هیڅ اړتیا نسته،اومبتدع په خپل عمل سره دا ثابتوي چې شریعت بشپړ نه دی او داسې څه پاته دي چې باید په دین کې زیـــات کړل سي،ځکه که مبتدع د شریعت بشپړتیا منلاي، نو نه به یې بدعت کړی وای او نه به یې شریعت ته یو عمل په نیت دعبادة اودثواب ا ضافه کړیوای،او څوک چې دا ډول باور ولري چې دادین کامل نه دی العیاذبالله څه نقص پکښې دی هغه د صراط مستقیم څخه منحرف دی.

## د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُقول:

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُفرمایي:هر څوک چې په ا سلام کې داسې بدعت راولي چې هغه یې ښه گڼي، په حقیقت کې هغه داادعا کوي چې محمد ﷺ په خپل رســالت کې خیانت کړی دی العیاذبالله ؛ ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کې فرمائلي دي: (الْيَوْمَ

---

[1] الإعتصام .

أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)ژباړه:"نن مي ستا سو لپاره ستا سو دين پوره کی"،نو هغه څه چي په هغه وخت کي دين نه وو، نن هم دين نسي کيدلای[١].

بل دليل: الله جَلَّجَلَالُهُ په قرآن کي فرمائلي دي: (وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ) [الأنعام١٥٣] ژباړه:" او ته دهغو کسانو دخواهشاتو پيروي مه کوه چي زموږ آياتو ته ددرواغو نسبت کوي،او دهغه کسانو (دخواهشاتوپيروي هم مه کوه) چي په آخرت باندي په داسي حال کي عقيده نه لري چي دخپل رب جَلَّجَلَالُهُسره (په عبادت کي بتان) برابروي. (ستا امت دې نه هغوی شاهدي مني او نه دې دکافرانو دخواهشاتو پيروي کوي)".

(صراط مستقيم )د الله جَلَّجَلَالُهُ هغه لار ده چي رسول الله ﷺ موږ اوتاسو ته بيا کړيده او دهغې لاري ښوونه يي راته کړيده ،چي هغه لاره قرآن دی او درسول الله ﷺ سنة دي.

(سبل)هغه لاري دي چي له صراط مستقيم څخه ماسيوا دي، او پر دغه لارو تلونکي کسان د خلکو ترمنځ اختلاف او انحراف رامنځته کوي چي همدغه مبتدعين دي.

داغه رکم په حديث شريف کي راځي: (وعن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال :خط لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم خطاً، ثم قال :هذا سبيل الله ، ثم خط خطوطاً عن يمينه وعن شماله، ثم قال :هذه سُبل على كل سبيل منها شيطانٌ يدعو إليه،ثم قرء)،(وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ) [الأنعام١٥٣] ژباړه:"دعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی وای داالله رسول ﷺموږ ته يو سېده خط کش کی،بيا يی وويل: دا دالله جَلَّجَلَالُهُ لار ده،بيا يي نوري خطي راسته او چپه طرفته کش کړلي،بيا يي وويل دا هغه لاري دي چي په هره لاره کي شيطان ولاړ دی او خلگ رابولي،او بيا يي دغه مخکنی آية تلاوت کی".

امام مجاهدرَحِمَهُ اللَّهُ وايي:(وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ) دسبل څخه مراد بدعات او شبهات دي [٢].

نو له دې آيت څخه ظاهرا دا معلومه سول چي دين هغه دی چي رسول الله ﷺ موږ ته بيان کړيدی نور له ځانه په دين کي زيادت راوستل يا پر بله لاره تلل دا ضلالت او گمراهي ده .

بل دليل:الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ فرمائي:(وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ) [النحل: ٩].

---

١ محبة الرسول بين الاتباع والابتداع/ص٢٢٥

٢ تفسير الطبري، ١٢/ ٢٢٩

ژباړه:"او خاص پرالله جَلَّجَلَالُهُ (تفضــلا)دســمي لاري بيان (او نزول)دی حال داچي دلارو څخه ځيني لاري کږي دي (بيله إلهي توفيق څخه ځان ساتل ګران دي)، او که چيري دالله جَلَّجَلَالُهُ اراده سوي وي نو تاسو ټولو ته به هدايت وکړي".

نو د "قصـد السـبيل" معنی ده د حق لاره، او له دې څخه ماســيوا نوري لاري د حق څخه منحرفي دي، يعني د بدعتونو، ګمراهيو او ګناهونو پر لور کږيدي.

اوامام مجاهدرَحِمَهُ اللهُ وايي: (قَصْدُ السَّبِيلِ) هغه لاره چي د غلوي (افراط) او تقصير (تفريط) ترمنځ معتدله وي، دا معلومه سول چي "جائِر" هغه څوک دی چي يا په افراط کي وي يا په تفريط کي، او دواړه د بدعت لاري دي.

بل ځای الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ فرمائي: (هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَــابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا الله) [آل عمران: ٧] دا(الله جَلَّجَلَالُهُ) هغه ذات دی چي پر تــــا باندي يي (ډير مهم) کتاب نازل کړيدی،چي ځيني آيتونه يي ښــکاره معناوي لري چي همدا (آيتونه)دهمدې کتاب بنسټ دی.او يوڅه نور آيتونه يي ښکاره معناوي نه لري.نو هغه کسان چي په زړونو کي يي باطلو ته ميلان وي نو دوی ددې کتاب څخه په هغه آيتونو پسي ځي چي هغه ښکاره معناوي نه لري(او هغه آيتونو ته هيڅ توجه نــه کوي چي ښکاره معناوي لري)دا له دې کبله چي په(خلګوکي)فتنه واچوي او له دې کبله چي دمطلبي معنی محض پلټنه وکړي (او خپل قلبي انحراف پکښبي پــټ کړي،نه دځان پوه کولو په غرض).او(حال دادی)چي په مطلبي معنی باندي يي نه پوهيږي مګر الله جَلَّجَلَالُهُ ".

نو دا آيت د هغو کسانو متعلق دی چي دحقه څخه منحرف او اوښتي دي، ځکه دوی د کتاب متشابه آيتونه تعقيبوي ددې لپاره چي په دين کي فتنه رامنځته کړي، او دا يوازي د دوی د زړونو د انحراف او د عقلونو د فســاد له امله دی،اودا د بدعت کوونکوعمل دی، ځکه دوی د قرآن محکم آيتونه پريږدي او په متشابه آيتونو ځان اخته کوي.

دا آيتونه د بــــدعت او د بدعت کوونکو مذمت په اجمالي ډول بيانوي، پرته له دې چي د بدعت کوم ځانګړی ډول يا برخه مشخص کړي. بلکي دا عمومي دي، او له دې څخه د هر ډول بدعت مذمت اخستل کيږي.

بل دليل:په حديث شريف کي راځي:( عن العرباض بن سارية السلمي رضي الله عنه قال :وعظنارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موعظة، ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب ، قلنا :يا ر سول الله كأنها موعظة مودع فأو صنا، قال: أو صيكم بتقوى الله والسمع والطاعة، وإن كان عبداً حبشياً، فإنه من يعش منكم بعدي فسيرى اختلافاً كثيراً، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشـدين المهديين فتمسكوا بها وعضـوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور، فإن كل محدثة بدعة، وكل

بدعة ضـــلالة[1])ژباړه:"دعرباض بن ســـارية الســـلمي ﷜ څخه روايت دی چي نبي ﷺ موږ ته نصـيحت وکی داسي نصيحت يی راته وکی چي سترګو دهغه څخه بهېدل وکړل ،او زړونه وبېرېدل،موږ ورته وويل اې دالله تعالی رسوله!ګواکي دا نصيحت درخصت اخيستلو نصيحت دی نو ته موږ ته و صيت وکړه، نبي ﷺ وفرمايل:زه تا سو ته و صيت کوم چي دالله جَلَّجَلَالَهُ څخه وبېرېږی،او دامير خبري ته غوږ نيسی او اطاعت يي کوی که څه هم حبشـــي مريی وي،ځکه شان دادی که يو څوک ستاسو څخه زما وروسته ژوند وکړي نو ژر دی ډېر اختلافات به ويني ،نو تاسو لازم سی زما دسنتو سره او زما دخلفاوو چي پوهان دي اوپر هدايت دي دهغو دسنتو سره لازم سی،تاسو په هغه باندي لاس نيوی وکړی او په نواجذ غاښـو باندي ټينګ ونيســی،او تاسـو ځان وســاتی دځانه جوړ ســوي امورو څخه ،ځکه هر دځانه جوړ ســوی امر بدعت دی،او هر بدعت ګمراهي ده".

دا حديث په صراحت سره بـــدون تخصيص او استثناء ټول بدعات ګمراهي بللې ده اوداسي عموم په نورو احاديثو کي هم راغلی دی، او هيڅ داسي حديث نسته چي داعموم ته تخصيص ورکړي او يوقسم بدعت له دي حکم څخه وباسي.

## حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ وايي:

د رســول الله ﷺدا وينا: (کل محدثـــــة بدعة) دايوه شرعي عمومي قاعده ده چي هم په څپل مفهوم کي اوهم په څپل دلالت کي مکمله ده.

دين مکمل هدايت دی،اوس څنګه څوک ضلالة ته په هدايت ويلای سي نبيﷺبدعت ګمراهي بللي ده او دين هدايت دی،که بيا هم څوک بدعت ددين څخه شمېري دا به يا بيخي دحسد انتهاء ته رسيدلی وي او يا به دسره شعور نه لري.

او نور داسي ډېر دلائل سته چي دبدعت مذمة ورڅخه معلومېږي.

هر څه چي د بدعت په مذمت کي راغلي دي، لکه د رســول الله ﷺ داقول:(کل بدعة ضـــلالة) دا ټول عمومي دي اوپه څپل عموم پاته دي،بدعت يوازي مذموم دی، که څه هم بدعت کوونکی يي ښه ګڼي.

هغه بدعت چي په شرعي لحاظ مذموم ګڼل سويدی،هغه هيڅ تقسيم نه مني،هغه بدعت چي علماء يي تقسيموي يا حسنة او قبيحه ته لکه امام شـــافعي رَحِمَهُ اللَّهُ يا نور علماء نورتقســـيمونه يکښـــي کوي،هغه بدعت په لغوي معنی مراد دی،داغه رکم

[1] رواه أبو داود كتاب السنة/باب في لزوم السنة(٤٦٠٧)

دعمر رضي الله عنه دا قول (نعمت البدعة هذه[1])ددي ټولوڅخه بـــدعت لغوي مراد دی،ځکه بدعت دلغة په اعتبارعام دی،او شرعا مطلق مذموم دی هيڅ تقسيم پکښي نسته.

## دوهم مطلب :

### د بدعت کوونکو پايلي :

د بـــدعت کولو تـــاوانونه يوازي د هغه چا پوري محدود نه دي چي بدعت کوي ، بلکي تاوانونه ئي ډير زيات او متعدي دي، مثلاً : دين ته تاوان رســوي، يعني په دين کي زيادت يا نقصـــان راولي،چي د مبتدع د بدعت لامله ناپوه او بې خبره کسان د دين د حقيقت په باره کی بې باوره کېږي دانه ورته معلومېږي چي د دين اصليت څه شي دی ؟ چي دغسـي حالت د دين د تکميل ښکاره نقض دی او دين ته لويه صدمه ده،او همدارنګه مسلمانه ټولنه وېشــي او اختلافات پيدا کوي بيا به مســلمانان خودبخوده دوه فريقه ويشـــل کېږي يو برخه به د ســـنتو متبعين او پيروکاران وي د بدعاتو سره مقابله کوي او بالمقابل بله ډله به د بدعاتو طرفداري او دسنتو مخالفت کوي چي به دې سره اسلامي جامعه دړو وړي ويشل کېږي .

ددي تر څنګ د بدعت کوونکي خپل ځاني اضرار او تاوانونه زيات دي چي ځيني ئې په لاندي ډول دي :

### ١ – د مبتدع عمل الله جل جلاله نه قبلوي :

کوم اعمال چي الله جل جلاله د بنده څخه قبلوي هغه دوه شرطه لري:اول : دغه عمل کي بـه اخلاص کوي الله رب العالمين لره.

دوهم: د غه عمل به د رسول الله ﷺ په پيروي کي وي .

بـــــدعت کوونکي چي کوم اعمال کوي هغه د ر سول الله ﷺ په پيروي کي نه دي ، نو ځکه دده عمل د الله جل جلاله په نېزد مقبول نه دی ، ځکه حديث شريف کي راځي : (عَنْ سَـعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: أَخْبَرَتْنِي عَائِشَـةُ، أَنَّ رَسُـولَ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ[2].) ژباړه: "چا چي داسي عمل وکړی چي زموږ د امر (سنت) سره برابر نه وي، هغه مردود دی يعني رد دی. " نو د بدعت کوونکي عمل د سنة خلاف دی ځکه قابل قبول نه دی.

### ٢ – بدعت کوونکی د الله جل جلاله د حفاظت او هدايت څخه بې برخي کيږي:

بدعت کوونکی چي بدعت کوي د الله جل جلاله په حفاظت کي نه دی ، بلکي دی خپل نفس ته سپارل کيږي .

---

[1] رواه البخاري/كتاب صلوةالتراويح/ باب فضل من قام رمضان(١٩٠٦)

[2] رواه مسلم/ باب نقض الأحكام الباطلة .

ځکه الله جَلَّجَلَالُهُ په قرآن کريم کي فرمائي : {وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} [آل عمران: ١٠١] ژباړه: "هغه څوک چي په الله جَلَّجَلَالُهُ پسي لاس ونيسي، هغه بېله شکه په سمه لاره برابر سويدی. "

بل ځای کي الله جَلَّجَلَالُهُ فرمائي : (وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا)[آل عمران: ١٠٣] ژباړه : " تاسو ټول د الله جَلَّجَلَالُهُ په رسۍ سره لاسونه ټينګ ونيسئ او مه سره جلا کيږی" دلته د "حبل الله" څخه مراد قرآن، او سنت دی.

الله سبحانه وتعالی په دې آيت کي د کتاب او سنت ټينګ نيول فرض کړي دي. څوک چي په دې عمل کوي، هغه به نجات پيدا کوي؛ او څوک چي مخ اړوي، هغه به هلاک کيږي.

کله چي بدعت کوونکي خپل خواهشات او نوي اختراعات د دين په نامه کوي، نو دی دالله جَلَّجَلَالُهُ په دين پوري لاس نيوی نه کوي ، چي لاس نيوی نه کوي نو دا کسان د دين سره په مخالفت کي دي،او څوک چي ددين مخالفه وي د هغوی په ارتباط الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ فرمائي : (فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ)[النور: ٦٣] ژباړه: "نو هغه کسان (منافقين) دي و بيرېږي چي (په چل او پټه سره) د پيغمبر ﷺ د امر مخالفت کوي(او کار ورانولو ته ئي ملاوي تړلي وي)،البته ددې خبري څخه)چي دوی ته به(په دنيا کښي)فتنه(مصيبت)ورسېږي او يا به ورته(په آخرت کښې)دردناک عذاب ورسېږي".

بدعات او نفساني خواهشات به د خپلو پيروانو سره پاته وي، تر څو چي هغوی هلاک کړي، ځکه بدعت کوونکي د الله تعالی او د رسول ﷺ په لارښوونه عمل نه کوي بلکي دوی هدايت د هغه څه څخه پرته په بل شي کي لټوي کوم چي الله تعالی نازل کړی دی، او د الله تعالی د حکم(امر او نهي)په وړاندي نه تسليمېږي .

سلف صالحينو خپلوکتابونو کي موږ ته دا نصيحت کړی دی چي له بدعتي خلکو سره مه کښېنئ او مه يي ملتيا کوئ، تر څو د هغوی دفتني او شر څخه محفوظ پاته سو.

سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ فرمائي:څوک چي له بدعتي سره کښېني، نو له درې حالتونو څخه به خلاص نه وي:

يا به د نورو لپاره فتنه سي، يا به يې په زړه کي داسي څه پيدا سي چي سړی دوزخ ته رسوي، يا به وواييي: قسم په الله، زه د هغه څه پروا نه لرم کوم چي خلګ زما په اړه وايي، زه په خپل ځان باور لرم.

خو څوک چي له الله تعالی څخه بغير يوه لحظه هم په خپل دين باور وکړي، الله تعالی به دين ورڅخه واخلي.[١]

---

١الإعتصام: ١/ ١٣٠ .

### ۳ – د الله تعالی خفه ليريوالی:

بـــدعتي کس چي څومره په خپل بدعت کي زيات کوشش کوي، هغومره له الله تعالی خفه ليري کيږي. ځکه الله تعالی هغه عبادتونه چي په شريعت کي مشـــروع گرځولي دي لکه واجبات،او مستحبات د دې لپاره دي چي بنده له الله تعالی سره نيژدې سي، او څومره چي يو بنده په طاعتونو کي کوشـــش وکړي او گناهونه پريږدي، هغومره به له خپل رب سره نيژدې سي، خو بـــدعتي کس داسي عبادت کوي چي الله تعالی نه دی مشـــروع کړی، او دا عقيده لري چي له دې لاري به الله تعالی ته ځان نيږدې کړم، حال دا چي دا بدعتونه الله تعالی منع کړي دي. نو هر څومره چي دا کس د خپل بدعتي عمل زيات کوشش کوي، هغومره له الله تعالی خفه ليري کيږي. ايوب سَختياني ﷬ويلي دي: «هر کله چي يو بدعتي کس په خپل بدعت کي ډېر کوشش وکړي، له الله تعالی نه به هم هغومره ليري سي.[۱]»

### ۴ – بدعتي کس به په دنيا کي ذليل وي او په آخرت کي به د الله تعالی د غضب سره مخ کيږي:

عزت يوازي الله تعالی لره دی ، او دالله تعالی د رسـول لپاره دی،او د مؤمنانو لپاره دی، لکه څنگه چي الله تعالی فرمائي: (وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُـولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ)[المنافقون: ۸] ژباړه : "عزت خو يوازي د الله تعالی، د هغه د رســول او مؤمنينو لپاره دی. " نو مسلمان به دومره عزتمن وي څومره چي په دين عمل کوي ، او د دين اسلام د حدودو څخه نه وي وتلی.

خو بدعتي کس د دين حدود مات کړي دي، ځکه بدعتي کس په دين کي يا زياتوب کوي يا نقصـــان راولي، نو له همدې امله بدعتي نه يوازي عزت له لاســه ورکوي، بلکي د ذلت سره به مخ کيږي ، او دالله تعالی د قهر مســتحق به گرځي. بل ځای الله تعالی فرمائي: (وَمَنْ يُشَـاقِقِ الرَّسُـولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَـبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْـلِهِ جَهَنَّمَ وَسَـاءَتْ مَصِـيرًا)[النساء: ۱۱۵] ژباړه : "څوک چي له رسـول سره مخالفت وکړي وروســته له هغه چي هدايت ورته بيان سوی وي، او د مؤمنانو د لاري څخه ماسيوا بله لار يي خپله کړي وي، نو موږ به هغه هماغي لاري ته پريږدو چي ده ځان ورته انتخاب کړی وي، او جهنم ته به يي واچوو، او دا(جهنم) بد ځای دی . "

هر څوک چي په دين کي بــــدعت راولي، د خپل بدعت په اندازه به ذليل وي، که څه هم خلکو ته ځان ډير نيک ســړی ښيي.خو کله چي د سنت بيرغ پورته يي ، او خلگ ټول په سنتو اخته وي، نو بدعتيان ځانونه پټوي.

نو څومره چي حق ښکاره وي، بدعتي خلک پټ وي، او برعکس که حق پټ سي، نو بدعت ښکاره کيږي.

۱ رواه ابن وضاح في كتاب البدع والنهي عنها،۲۷ .

### ٥ – د رسول الله ﷺ له خوا د بدعت کوونکو څخه بېزاري:

رسول الله ﷺ د هغه چا څخه ځان جلا کړی دی چي د سنت څخه مخ اړوي، او دده ﷺ د لارښوونو څخه منحرف کېږي. نبي کريم ﷺ فرمائي: ( فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي[١] ) ژباړه: "چا چي زما دسنت څخه مخ واړاوه، نو هغه زما د امت څخه نه دی. "

اوبدعت کوونکی هغه څوک دی چي د سنت لار يي پرې ايښي ده، او خپل خواهش يا د شيطان د وسوسو له امله بدعت ته ګرځېدلی دی، نو دا ډول کس د همدې وعيد لاندي راځي.

### ٦ – څوک چي بدعت جوړکړي، نو د هغه بدعت ګناه او هغه ټوله خلک چي دا بدعت کوي تر قيامته پوري ګناه به يي دده په غاړه وي:

الله تعالی فرمايي: ( لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ) [النحل: ٢٥] ژبـــاړه : " دوی به خپل ګناهونه پـــه کامله توګه د قيامت په ورځ ( په خپلو اوږو باندي ) پورته کړي،او د هغو کسانو د ګناهونو څخه به هم (څه برخه په خپلو اوږو پورتــه کړي) کوم چي دوی بيله علمه څخه ګمراه کړي وه( چي بيله تحقيقه ئي ددوی خبره منلې وه" .

رسول الله ﷺ فرمائي: (عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً، كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ، مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ[٢] ) .ژباړه : "منذر ابن جرير د خپل پلار څخه روايت کوي: وای دالله رسول ﷺ و فرمائل :څوک چي په ا سلام کي يو بد سنت رامنځته کړي، هغه ته به د خپل عمل ګناهورکړل سي او د هغو کســانو ګناه به هم ورکړل سي چي تر ده وروستــه په دې عمل وکړي، پرته له دې چي د هغوی له ګناهونو څخه څه کم سي"

بل ځای د الله رسول ﷺفرمائي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: (مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى، كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ، كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا[٣]) ژباړه: "څوک چي د هدايت نبوونه وکړي، نو ده لره به دهغه ټولو کسانو اجر وي چي به

---

١ رواه البخاري:باب في ترغيب النكاح .

٢ صحيح مسلم/كتاب الزكاة/ باب الحث على الصدقة.

٣ صحيح مسلم/كتاب العلم/باب من سن سنة حسنة او سيئة، ٤ /٢٠٦٠ .

دا هدايت پرسي سي، او د هغوی د اجرو څخه به هيڅ شی هم نه کمېږي، او څوک چي د گمراهی ښوونه وکړي نو پر ده باندي د هغه ټولو کسانو گناه ده چي په دغه گمراهي عمل کوي، او د هغوی د گناهونو څخه به هيڅ شی هم نه کمېږي. "

## ٧ – بدعت کوونکي ته د توبې توفيق نه ورکول کېږي :

د بـــــدعت کولو بل تاوان دادی چي بدعت کوونکي ته د توبې توفيق نه ور کول کېږي؛ يعني ډېر کم داسي پېښـېږي چي بدعت کوونکی توبه وباسي، ځکه شـيطان ورته بدعت ښـايســته کړی وي، او بدعت کوونکی دا بدعت طاعت او د الله تعالی دتقرب(نيږدي والی) سـبب ئي گڼي، گناه ئي نه بولي. نو څوک چي داسي عقيده ولري داسي اميد نه ورڅخه کېږي چي توبه دي وباسي، مگر که دالله تعالی رحم وربانديي وسي بيا الله تعالی د توبې توفيق ورکوي .

سفيان ثوريرحمه الله فرمائي: «بدعت ابليس ته تر گناه ډير ښه دی؛ ځکه د بدعت څخه خلگ توبه نه کاږي، او دگناه څخه خلگ توبه کاږي[١]» . يعني يو کس چي بدعت کوي دا خپل عمل ثواب گڼي گناه يي نه بولي نو ځکه توبه نه پرکاږي .

ابن تيميهرحمه الله ليکي: چي توبه خلگ د (٢) شـــيانو لپاره کاږي، يو دا چي دی پوه سي چي دا عمل د گناه عمل دی نو توبه کاږي چي دا عمل ورڅخه پاته سي، بل هغه وخت خلگ توبه کاږي چي يو نيک عمل ورڅخه پاته سي؛ نو الله تعالی ته متوجه سي چي إلهي دغه نيک عمل را څخه پاته سـويدی بخښـــه راته وکړه. نو تر هغه چي يو څوک يو بد عمل ښـــه گڼي،او هغه عمل يي پرې ايښـــی نه وي هغه توبه نه باسي؛ ځکه دی هغه عمل بد نه گڼي چي توبه وباسي، او يا هغه عمل ور څخه پاته سوی نه دی چي د الله تعالی څخه د هغه توفيق و غواړي، ځکه دی په هغه عمل اخته دی نو توبه نه کاږي[٢].

البته د بـــــدعت کوونکي توبه ممکنه ده او واقع کيدای سي، که الله تعالی هغه ته هدايت وکړي ، او که هغه توبه وباسي، الله به يې توبه قبوله کړي، ځکه د توبې دروازه د هر گناهگار، نافرمانه، او گمراه لپاره خلاصه ده.

د بدعت کوونکي توبه څنگه ده؟

بدعت کوونکي ته په کار ده چي پر دغه عمل پښـيمانه سي، او تر څنگ ئې دا لازمي ده چي دی به د خپل عمل اظهار او بيان کوي چي دغه عمل د گناه عمل دی، ځکه ده په دغه عمل سره حق پټ کړيوو او هغه مخالفه لاره ئي اختيار کړيوه، ځکه الله تعالی د هغه چا لپاره چي حق پټوي او وروســته توبـــــه کاږي دا شرط کړيدی چي دی به دهغه حق اظهار او ښـکاره والی کوي.الله سـبحانه وتعالی فرمائي:( إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي

---

١ الفتاوی ١٠ / ٩ .

٢ الفتاوی ١٠ / ٩ .

الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ * إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الــــرَّحِيمُ.) [البقرة: ١٥٩-١٦٠] ژباړه: بیشکه هغه کسان چي دوی هغه شی پټوي چي موږ نازل کړی دی چي د ښکاره دلائلو او هدايت څخه عبارت دی د هغه څخه وروســته چي موږ هغه د خلکو لپاره په کتاب کښــي ښــه واضــح کړی دی، په دغه کســانو باندي اللهﷻ هم لعنت کوي ( د رحمت څخه ئي ليري کوي ) او ټول لعنت کوونکي هم وربا ندي لعنت غواړي ، مگر هغه کسان د لعنت څخه خلاص دي چي هغوی توبه وباسي او ځانونه ا صلاح کړي او هغه څه بيان کړي چي پټ کړي ئي وه، نو په همدغو باندي زه په رحمت سره رجوع کوم او همدا زه ښه توبه قبلوونکی او مهربان يم .

## خاتمه

د بدعت کوونکي گناه د هغه چـــا له گناه څخه زياته ده چي حق پټوي؛ ځکه حق پټوونکی حق پټوي، خو بدعت کوونکی هم حق پټوي او هم د هغه خلاف عمل تر سره کوي. نو لومړی بايد بـدعت کوونکی پوه سي چي هغه څه چي کوي بدعت دی، بيا بـايد سنت وپيژني، عمل ورباندی وکړي او بيا د خپل توان په اندازه خلکو ته د بدعت فساد ښکاره کړي، او لاس ځيني واخلي، او د رسول الله ﷺ لار تعقيب کړي، ترڅو د بدعت پردې لېري سي او د سنت لمر ورڅخه وځلېږي.

محترمو لوستونکو!

انسان بايد دا خپل ژوند دسنت نبويﷺمطابق جوړ کړي او هر قسم شک، شبهاتو، بدعاتو، اوخرافاتو څخه ځان ليري کړي،ځکه بـــــدعت يو داسي گناه ده چي انسان بيا توبه نه پر کاږي،ځکه دی خو يي ددين په نامه کوي دين يي گڼي، او گناه يي نه بولي،نوبيا توبه څنگه پر وکاږي!!؟

مؤمن مســـلمان لره لازمه ده چي خپله زندگي دســـنتو سره برابره کړي،د مبارکﷺ ژوند مطالعه کړي د هغه ســيرت او صورت په ځان کي راولي، د صحابـــــه کرامو تگ لاره ځانته معلومه کړي او په هغه باندي خپله زندگي جوړه کړي، بايدد حق لار وپېژني او هغه د ځان لپاره اختيار کړي، دا خپل عمل ته بايد هر څوک متوجه سي چي پر غلطه لار خو به نه يم روان! د مبارکﷺ د سنتومخالفه عمل خو به مي نه يي اختيار کړی! ځکه شيطان موږ ته د غلطو اعمالو ښايسته کولو کوښــښ کوي؛ نو موږ بايد متوجه ســو د شــيطان لار ځان ته اختيار نه کړو، او هغه ټول أعمال پرېږدو چي د نبيﷺ د مبارکو سنتو مخالفت پکښي وي، او دالله ﷻ څخه توفيق و غواړو چي د باطلو لارو څخه مو وساتي، او پر حق مو برابر کړي، دبدعاتو خرافاتو لاري جهنم ته تللي دي، بايد په کلکه ځان ورڅخه وساتو.

په آخر کي داللهﷻ څخه خواســت کوم چي اللهﷻ دي مو پر حقه لاره چي د نبي کريمﷺ ســنت طريقه او لاره ده برابر کړي دباطلو ټولو لارو څخه دي مو اللهﷻوساتي. آميــن

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العلمين

## سپارښتني/وړانديزونه

### ۱ : علماوو ته سپارښتنه :

ديني علماء دي د سنت او بدعت اړوند موضوعات په منبر او ترجمو کي وعوامو وړونو ته بيان کړي،او په دې بخش کي دي زياته توجه وکړي مقالې دي ورباندي وليکي خلگو ته دي دسنت عملي کولو اهميت او د بدعاتو کولو تاوانونه او پايلي بيان کړي تر څو ټولنه اصلاح سي او فساد له مينځه ولاړ سي .

### ۲ : د اسلامي نظام مسؤولينو ته :

د اسلامي نظام باصلاحيته اداري او مقامات دي د سنت او بدعت اړوند سيمنارونه تيار کړي، علماؤ ته دي ددې اړوند موضوعات وسپاري، اوخپل ما تحت اولس دي دسنت عملي کولو ته وهڅوي او د بدعاتو کولو څخه دي ئي وبيروي .

### ۳ : وټولني ته :

و ټولي ټولني ته په کار ده چي د علماء څخه د سنت او بدعت اړوند معلومات و غواړي سنت او بدعت دي ور څخه زده کړي او بيا دي هر سنت په خپل ځان کي عملي کړي او د هر رنگه بدعت څخه دي ځانونه وساتي .

# مأخذونه


١ : القرآن الكريم .

٢ :بخاري،محمد بن اسماعيل،(٢٥٦)، الجامع المسند الصحيح، ( ١ ) دار طوق النجاة.

٣ :الطبري،محمد بن جرير،(٣١٠)، تفسير الطبري، ( ١ )، دار هجر .

٤ :عزيز، سلطان عزيز، (- - - )، عزيز التفاسير، ( ٦ )، دار الكنوز العالمية .

٥ :مسلم، مسلک بن الحجاج، (٢٦١)، المسند الصحيح، ( - - - )، دار احياء التراث العربي.

٦ :ابوداؤد،سليمان بن الاشعث، (٢٧٥)، سنن ابي داؤد، ( - - - )، المكتبة العصرية صيدا.

٧ :ترمذي،محمد بن عيسى، (٢٧٩)، الجامع الكبير، ( - - - ) دار الغرب الاسلامي.

٨ :محبة الرسول، عبدالرءوف محمد عثمان، ( - - - ) محبة الرسول بين الاتباع والابتداع، ( ١ )، رئاسة إدارة البحوث العلمية ــ الرياض .

٩ :اعتصام، ابراهيم بن موسى، ( - - - )، الاعتصام، ( - - - )، دار الفكر العربي .

١٠ :ابن تيمية، احمد بن عبدالحليم، ( - - - )، مجموع الفتاوى، ( - - - ).